# ژوند ته

اوښکو مې ستا له لاسه

له پښتنو سترګو نه

څيرې ګريوان ته اراده د توييدو وکړله

په نيمه لاره کې پښيمانه شوې غيرت ونيوې

په سترغليو کې مې

تاوې را تاوې شولې

له شرمه نه توييدې

دومره مجبوره شوم چې:

په اندېښنوکې د ژوند

لکه يتيم ماشوم مې سر په څنګل کېښودلو

وړې سلګۍ مې وکړې

شرم، حيا او پښتو

له ما خپه شول واړه

ځکه چې زه شومه کمزورې او ژړا مې وکړه

ژوندونه ستا له لاسه؟!!

۵/۴/ ۱۹۹۰ پېښور

زما پرشونډو د موسکا غوټۍ لړ وغوړود

جانانه بيا مې را ژوندي کړه نوي سا راکړه

زه دې په سترګو کې داوښکو ډالي نه منمه

ما ته په کِسو کې تصوير د مينې بيا راکړه

# د حرم کوڅه

باغــچــه راته د ګلو د ســتم کــوڅــه ، کــوڅــه شــوه
د زلفــو سلسله مې ســتــا د غم کــوڅــه ، کــوڅــه شــوه
ړنـدې په مــخ روانــې دي ګـــــودر دی ورنــه هـیـــــر
په اوښکو لوند ګريوان مې اوس د نم کوڅه ، کو څه شوه
په هغــو لا رو تلم چې رقــيــبــا ن به ګــوا ښــيــدل
کــه څــه هم رانه پاتې د صنم کــوڅــه ، کــوڅــه شــوه
پټــې کـــړه ورتــه جــوړه د ديدن چې د زړه تپ مــې
په ټمه د دروا و د ملهم کــوڅــه ، کــوڅــه شــوه
بيګا مــې خــوب ليــدلی چې مــې وړې د اســمــان لور ته
مــيــرا ته رانه پاتې د ماتم کــوڅــه ، کــوڅــه شــوه
په دغــه چم کــې مــا د جنون شــپــې دي ســبــا کـړي
دا ځکه اوس د حــورو د حــرم کــوڅــه ، کــوڅــه شــوه

اهدا د ختیزې سیمې او د ننګرهار ولایت سرلوړي میړني اتل زاهد ابراهیمي ته چې د سره رود سرې اوبه او د تور غره د شنیلیو ډکه لمن یې په کار- نا مو ترابده ویاړي او د هغه د سپیڅلې لارې اتلو لارویو ته:

# زما اولسه!

که د آسمان له خوږولو لیمو

اوښکې ونه بهوم

که دهر چا دزړه ناره نه شومه

که مې دا کلک زړونه ونه لړزول

بیا چې مې ونه بخښې

***

څو د شفق، د سپیده داغ ناوکۍ

چې نرګسي کاته یې وبرېښېږي

او د غوټۍ د غوړېدو هیله یې وهڅوي

هسې بیتا به او بې صبره شي چې

لارې کوڅې وڅاري

یا په محل کې د هر چا له سترګو

د چا پوښتنه کوي

د انتظار شیبو کې

بیا مې افغان مه بوله

که مې سپېرو د ښتو کې

د مارکونډیو بوټي

په نڅا رانه وسته

که مې د شپې په زړه کې

د سپیده داغ رڼایي

حرام حرام شه پر ما

***

که له توفانه پاتې

سیلۍ وهلیو ستړیو

مړاوو غوټیو ته شبنم نه شومه

بیا مې افغان مه بوله!

***

که د شفق پرلمن

د وینو دارې نه شوې

که د سپوږمۍ له ټیکه

غمۍ را پرې نه واته

یاکه د لمر په پلوشو اوبه ونه څوڅکیدې

زما د زړه له وینو

زما د سترګو له اور

که مشالونه نه شول

که ننني دښمن ستا

د پیرنګي په شان مې تس نس نه کړ

ستا شمله وربچي افغان به نه یم

***

که د مزار جنډې مې

په رپا بيا رانغلې

که دې نرۍ ته د میړانې او ننګ

آواز ونه رسوم

ګوګل به وځيرم ګريوان لاځه دی

که داسې ونه شونو

ما هم په مړو وشميره!!!

۱۳۶۵/۵/۱ کابل

# ګیله

تا بلد په غـــلا کــړمـــه، یاره دا دې څـــه وکـــړه؟
ستـړګـو دې پخـلا کـړمـه، یاره دا دې څـه وکـړه؟
ستـــا په سـپـیـره کلي کـــې چا.ته ستـــرګي واړوم
مـــینې دې رســواکــړمـــه، یاره دا دې څـــه وکـــړه
ستـــا د لیـونو ستــرګـو، سـر په سـر ستـونو زه
څـــومـــره بې پروا کــړمـــه، یاره دا دې څـــه وکــړه
ستـــا د مـــحـــبت په تور زه شـــومـــه تورنه خـو
ذا ګـــیله له چا کـــړمـــه یاره دا دې څـــه وکـــړه

يو ځل دې خـــوږو كـــتــو ، وړانگه د لمرنه كـــړمـــه
پړك دې د بريښنا كـــړمـــه ، ياره دا دې څـــه وكـــړه
ستــــا د مـــحـــبت په كـــور هغـــه مـــيلمنه ومـــه
دا كـــور به هم ســـتـــا كـــړمـــه ، ياره دا دې څـــه وكـــړه
اوښكو ليـــونو ته مـــې څـــه زارۍ چې ونه كـــړې
ټول ژوندون ژړا كـــړمـــه ياره دا دې څـــه وكـــړه
سترگې مې ستومانه شوې ټول نظر ستومان ستومان
څـــوچې تا پيـــدا كـــړمـــه ، ياره دا دې څـــه وكـــړه .

۱۹۹٤/٤/۹ ډنمارك

# وځلېږمرونو

وينښ شئ بهـــارونو ، چې زمـــوږ کلي ته ځــو
وخـــاندئ ګلونو ، چې زمـــوږ کلي ته ځـــو
سوې ساندې پرېږدئ نور، پيل کړئ د خوښۍ نغمه
پاڅئ کـــاروانونو چې زمـــوږ کلي ته ځـــو
شپـــه د تـرږ مـــيو سبـا کـــيږي رڼا کـــيږي به
وخت دئ د رنګونو چې زمـــوږ کلي ته ځـــو

دا شعر په معنوي مینه بي بي صفيې صديقي ته اهدا کوم.

عبدالرحمن پژواک ۱۱/۱۹/۱۹۹۱ پیښبور.

ای د محمود او احمد شاه وارثې

ای د لودي او د شیرشاه وارثې

په پیښور کې مساپره نه يې

د زړګي سره مهاجره نه يې

ځان په انصارو کې حساب کړه ته

مهاجرنورو ته خطاب کړه ته

ځکه چې: نه و ابدال، نه محمود يا ن مهاجر

نه وو سوري او نه لوديان مساپر

او ځکه چې:

که کابل، سرخرود، لغمان او کنړ وچ وای

پښتونخوا کې به روان اباسین نه وای

شوندې سپیرې نه دي هم دا زړونه زړونه وګوره

ډک له امیدونو چې زمونږ کلي ته ځو

داسرې کوډلې موتودې نه شوې

وځلئ لمرونو ، چې زمونږ کلي ته ځو

وبه سپړو ګل به شو وروسته له وختونو نه

ځوانو مهالونو چې زمونږ کلي ته ځو

بس د ناسور شویو پر هر ونو پټي مه راوړه

خولې ورکړئ زخمونو ، چې زمونږ کلي ته ځو .

۳/۳/۱۹۹۲

# شکمن ارمان

ما تا ته کله د دیدن وعده درکړې نه ده

ما درته کله هم په ورین تندي کتلي نه دي

تا ته مې زلفې ول په ول سمسورې کړي نه دي

ما درته چيرې هم په سترګو کې خندلي نه دي

ما درته ناز او ادا کړې نه ده

کله مې هم ستا د راتلو لارې څارلې نه دي

دومره ویلای شم چې:

ستا د لیدو تلوسې

ستا مړاوي مړاوي کاته

د لیونو غونډې په دغه کوڅه تلل او راتلل

ستا له غمونو سره جوخته خندا

ستا د سپیرو شونډو په زور پرانسته

او ستا د سترګو کیسې

او ستا خاموشه غلچکي کاته بیا

زما په زړه کې یو شکمن ارمان راوپاروي

څه ته مې وهڅوي

کیدای شي مینه وي دا ؟!!

# اندیښنه

دا چې غم راته کړې، نو ځان ته وژاړم که تا ته
د زړه زغم چې ماتوې، نو ځان ته وژاړم که تا ته
زه د مینې انځور گره څه تصویر چې جوړوم یې
دا چې ته یې ورانوې، نو ځان ته وژاړم که تا ته
دا د اوښکو سمندر به مانیې رنگه د بیلتون کړي
ته پرې ځان لاهو کوې، نو ځان ته وژاړم که تا ته
زه د شیخ او د زاهد په ریاگانو باور نه کړم
که لوزونه ماتوې نو ځان ته وژاړم که تا ته
د خیالونو تاج محل کې یو ته نه یې چې اوسیږې
صفیه چې گرموې نو ځان ته وژاړم که تا ته.

۲۱/۱۲/۱۹۹۳

# دوه بې ځوابه ټکي

اجازه را کړه چې دې وپوښتمه

مینه رښتیا ده که هوس ته خلک مینه وایي

څوک یې د ژوند یو حقیقت بولي

او ځنې بیا وایي چې:

مینه یو شوق دی، یو ارمان دی، یو نیمګړی ارمان

مینه حیا ده او وفاده او منلی جانان

مینه تر سره تیریدل دي، دارمان په لارکې

ځينو ته هم دامينه

خوشې هوس ښکاريږي

د ساده زړونو د ښکار

آسانه لاره ده ورتلل آسان دي

ماته معافي وکړه ، بخښنه وکړه

زما په زړه کې هم وړه شانتې دغوښې ټوټه

وشول کلونه چې ټوپونه وهي

دمحبت په مرغلين مزي تړل غواړي

خو دا چې کله او له چا سره زه نه پوهيږم

ځکه چې ماته د هوس او ميني

د دغو دوو ، هم وړو هم لويو

ټکو مانا لا بې ځوابه ښکاري

دابې ځوابه ټکي

ډيرو کلو راهيسې

زما د زړه پر سر دي ليک خو بې ځوابه دي لا

# مخ روڼې

تاوده تاوده چې لا نغري پاتې دي
دامې پلوکې سپېلنې پاتې دي

راته څرګنده کړه وفادې لړه
پټ مې په زړه کې مخ روڼې پاتې دي

وعدې دې کړلې، خو وفادې نه کړه
اوس د زړګې سوې زګېروې پاتې دي

وروستۍ سلګۍ مې چې تر خولې راغلې
ګوندې د سوې زړه لوګي پاتې دي

یار ته په زغرده چې ویلی نه شم
دامې خویونه پښتنې پاتې دي

خاطر به ولې پرېشانېږي زما
لامې شعرونه غرځنې پاتې دي.

۱۳۶۶/۵/۲۷ کابل خیرخانه

# ننواتې

سپرلیه د ګلونو، زمونږ کلي ته هم ورشه
پخلا شه له وختونو زمونږ کلي ته هم ورشه
خوښۍ او خنداګانې شه زما بیوسې مورته
ډالۍ د امیدونو، زمونږ کلي ته هم ورشه
کوښښ وکړه زخمونه، د ګلونو پرهرونه
مرهم د زخمي زړونو، زمونږ کلي ته هم ورشه
په پیغلو اننګوکې بیا سرخي کړه را پیدا
مسیحه د ژوندونو زمونږ کلي ته هم ورشه
ګلونه د لاله او د نرګس سره پخلا کړه
پیوندو کړه د زړونو زمونږ کلي ته هم ورشه
ښایسته وطن کابل* مې یو ځل بیا په ګلوپټ کړه
تعبیر مې د خوبونو، زمونږ کلي ته هم ورشه

بې کوره مرغی راوله چې ځالې کړي بیا جوړې
خوښی د مهالونو، زمونږ کلي ته هم ورشه
په څنو د سپرلي کې خوشبويي کړه راپیدا
وږمې د بهارونو زمونږ کلي ته هم ورشه .

١/٣/١٩٩٢

دا ستا په غم کې د ژړا وختونه ښه تیریږی
یارد پر ما که هم پر تا وختونه ښه تیریږي
کله ژړا کله خندا کله هجران دي ژاړم
بوازې نه یم بېنوا وختونه ښه تیریږی

# خپه موسکا

په زړه کې مې تودې هيلې نن بيا خپه ښکارېږي
په وچو سپيرو شونډو مې موسکا خپه ښکارېږي
په رازمې پوهيدلې اوس مې نه پرېږدي ورتلو ته
گودر شورانه پاتې چې آشنا خپه ښکارېږي
ډيوې د خوږې مينې په مجمر کې د زړه سوزي
لړۍ لړۍ شعرونه چې زما خپه ښکارېږي
د ژوند د آرزوگانو مې وړې وړې سلگۍ دي
چې مرم دغم په غېږ کې مسيحا خپه ښکارېږي.

۱۳۶۶/٤/۱۰ کابل

# بی بی صفیه

مرا در پشاور گُزین دختریست
که در آسمان سخن اختریست
خهی گر صبا بازاین مثنوی
برد سوی آن دختر معنوی
جز این برگ هر چند سبزیش نیست
دگر تحفه ای نزد درویش نیست
اگر بود برگی طراوت نشان
نمانده حوادث بجا ، زان نشان
همه باغ گل خاکدان گشته است
کجا* برگ سبزی خزان گشته است

* هر کجا

# د شعر آسمان

هسې چې تا ته د ر کتلی شمه
داسې دې سترګو کې خندلی شمه
تا مې د زړه د ځوانیمرګو هیلو
رنګ شوي کورته رابللی شمه
تا ته د زلفو په تیاره کوڅه کې
ډیوې د سترګو بلولی شمه
هر څه مې وزغمل په دې چې ګنې
اوس دې قسمته بدلولی شمه
د خپلې مینې د حسرت په ګوتو
کور د ناخوالو ړنګولی شمه

تا ته په ټول عمر سپرلي د ژوندون

په خورو زلفو کې ښودلی شمه

ستا په پټکي کې یمه خوښه غوټۍ

د ننګ شمله دې هسکولی شمه

چې مخامخ شم صفیې سره زه

د شعر آسمان ته ورختلی شمه.

۱۳۶۶/۱/۲۰ کابل

## د حقیقت ډولۍ

سترګې مې ستا د سترګو

د شنه آسمان په زړه کې

دوفا ستوري کتل

زما د سترګو باغ کې

د امیدونو غوټۍ

په نڅېدلو شوې چې:

د شنه آسمان په شا او خوا سیمه کې

وریځې پیدا شوې راغلې

چې د باران پلمه شي جوړه ورته
ورسره جوخته مې له سوي زړه نه
سره سیلۍ پاڅیده
له بربوکیو سره
لاړله نیغه د آسمان زړه ته ورننوته
نرۍ نرۍ باران راوورېده
هغه غوټۍ شوې د ګلبوټي خړوب
ګلان یې وسپړېدل
بیا د خیالو ناوې مې
له انتظاره لرې
د خوشحالۍ او خندا
له لویو وراوو سره
د حقیقت ډولۍ کې
د نوي ژوند پر کاله ننوته!!!

۱۶/۸/۱۳۶۶ کابل خیرخانه

# د غزل ګل

ته چې اوښتې د اسویلو پر مخ
پرخې پریوتې مې د ښو پر مخ

الوزي مې خیال هغه جهان کې چې
ته را ته قدم ږدې د لیمو پر مخ

تویې شوې په خړو سپیرو خاورو کې
اوښکې چې راتلې د انګو پر مخ

یاد مې د خوارو ژوندون خوار چې شي
خاورې مې پریوزي دا سرو پر مخ

دې غمګین زړګي کې ته یې لور په لور
ځکه مې انځور کړې د شعرو پر مخ

ته د صفي د غزل ګل شولې
ساچې لنډیده یې د سلګو پر مخ.

۲۹/۵/۱۳۶۵ کابل خیر خانه

# زیری

دانتظار په یوسکني ماښام کې
ما د زرینو وړانګو
دځوانیمرګو سلګو
په وروستنو شیبو کې
د لمر د بیرته راتګ زیری ولید
هله مې زړه ستا د وفا له خمه
په جل وهلو شونډو
چې یې مدام ستړګو ته

زگیروي ژړا راولي

پیاله نسکوره کړله

زما د میني تنده

چې د موسکا د بڼ د سرو گلونو رنگ زیږیده

ستا د نظر سینه کې ماته شوله

***

شپه وه له نیمو تیره

د سپیده داغ ناوکی

راته په شونډو کې موسکی غوندې شوه

ویل یې بیا سبا شو

دا دی د لمر د راتلو زیری درته

نور انتظار مه کوه!!

۱۸/۸/۱۳٦۷ کابل خیر خانه

# د وختونو خندا

دا څنګه د وختونو په خندا وغولیدې
د پیغلو شو خو سترګو په موسکا وغولیدې

ما زلفې کړې سمسورې خو سپرلې ورانه تیر
دا ته دچا د زلفو په هوا وغولیدې

ما مینه درواری کړه خو زما زړګیه ولې
په ځغلنده نظر ته د بل چا وغولیدې

آخر مې تودولې په لمرونو د احساس
افسوس چې ته د ستورو په رڼا وغولیدې

ما ویلې چې غزل مې شه احساس مې شه جنون شه
رښتیا دې کړله هیره په ریا وغولیدې

ما اوښکې درجرګه کړې خو زه پوه نه شوم چې ولې
تا وغندل وختونه چې په ما وغولیدې

که وخت اجازه راکړه صفیې نه کړم پوښتنه
چې ته څنګه په زهد، په تقوا وغولیدې؟

۱۹۹۳/۱۲/۱

# انتظار

پریوته غـــدۍ چې نن د چا پر ســـر
خـــیر دې وي خـــاونده د اشنا پر ســـر

ښه شوه چې رسوا شو له داستـــا مینه
خـــاورې شـــوې نسکورې د حـــیا پر ســـر

وخـــیره گـــریوان د ترورمـــیـــو بیـــا
مـــات یې کـــړه لوزونه د رښا پر ســـر

راشـــه چې وردانگو ســـرو لمبـــو ته یې
خـــیر کـــه تو مـــتـــونه وي زمـــا پر ســـر

ښـــځې جنازې د نیـــمـــو شـــپـــو به شي
هر څـــه به بدلیـــږي د ســـبـــا پر ســـر

ستـــا په انتظار کې ستـــرگې سپیـــنې شوې
واخله تو مـــتـــونه یو ځل بیـــا پر ســـر

دا د مـــحـــبت ناچارې شـــپـــې اوږدې
ډیر ې نازولې یاره ستـــا پر ســـر.

۱۳٦٦/٦/۵

## برې

زه د حسرت په جل وهلي جام کې
لکه سراب يو تش تصوير ګورم
که د باور اوبه دي
يو ګوټ ترې څښنم
که مې پرې ماته شي شکمنه تنده
ځکه چې ډېره زغلېدلې يمه
په ډېرو منډو ستړې شوې يمه
هم ځوريدلې يمه
هم رټل شوې يمه
ايله په سوې سارا ورسېدم
زه د باور کلي ته .

***

چو شد باغبان زاغ و بلبل غریب
چه آید بگوش کسی جز نعیب؟
نمانده به گلشن یکی سبز برگ
که یابد نجات از نهیب تگرگ
نماندی بدل زنده یک آرزو
«تفو بر تو ای چرخ گردون تفو»**
تو ای دختر کابلی نازنین***
جهان خاتم و کابل آنرا نگین
تو ای سرو رعنایی باغ خیال
به زیبا شمایل به نیکو خصال
بر طبع روان همچو خان ختک
خروشان و مستان چو رود اتک

** فردوسی طوسی. *** نویسندگان قرن ۱۹ میلادی بویژه انگلیس ها و هندوستانی ها همه افغانستان را «کابل» می گفت.

يو گوټ مې وکړو له هغو اوبو نه

ستونی مې لوندشولو خو

تنده مې ماته نه شوه

مری مې لا وچیده

تسل مې هم نه کیده

خو یو عبرت یې را کړ

یو لوی سبق یې راکړ

***

بس اوس یې پوهه کړم په دې چې ژوندون

په منډه تلل غواړي

د ژوند توده بټۍ کې

لکه نیني چې پخیدل غواړي

د زمانې ژرندې ته

په خپله تلل او دلیدل غواړي

بری موندل دي همدا !!!

۱۳۶۶/۹/۱۰

# نیزه وړي

زاری منت کــوم زمـــا خـــوبونه مـــه ورانــوه
خــواره خــواره مـــې دا شنا خـــوبونه مـــه ورانوه
تر نیـمـو شپـو پورې دوخت لبړې ګـیلې لرمـه
سـلام سـلام دا د ســبـا خـــوبونه مـه ورانـوه
څـه نیـزوړي شـان خیـــالونه مـــې راوبوړنوي
کلـه نا کلـه دې رواخـــوبونه مـــه ورانـوه
چې مـــخـــامخ درته ویلی او کـــتلی نه شم
دا پښــتني مـــې د حــیــا خـــوبونه مـه ورانـوه
یو تاج مــحل ځــان ته کلو کــې جـوړومــه کله
بس یو ځل راشي نا اشنا خـــوبونه مـــه ورانـوه
ستــا پـه لیـدومې د ځوانی خیـالونه وتخنیـږي
پوره به نشي یاره دا خـــوبونه مـــه ورانـوه
زمـا ژوندون، زمـا مـاضي او مستـقبل دي په کې
دا مـــې په شـــونډو د خندا خـــوبونه مـه ورانـوه.

۲۰/۵/۹۶

# د محبت څلي

دا چې رنګونه په ګلونو کې دي
خبرې تولې بهارونو کې دي

زه به رسیږمه د یار کوڅې ته
چې تلوسې مې تکلونو کې دي

د زړه پرهر مې رغیدلی نه کاري
چې مې خوندونه امیدونو کې دي

د مات ګوګل سره به نه درځمه
مخکې اغزي لا منزلونو کې دي

تل به رپانده وي جنډې د مینې
د محبت څلي چې زړونو کې دي

راته یې مه کره په لویه لار کې
دا اغزي نبخ په ځيګرونو کې دي

صفي څه شوکه هر چیرې یې ته
اوس دې هر څه په غزلونو کې دي .

۱۳۶۰/۱۱/۶

# دوربل گلونه

چې مې قدم ستا په درشل کېښوده
لکه چې دام دې دا جل کېښوده
ما تو متونه د جنون ومنل
تا په سینه کې مې اور، بل کېښوده
ته راوستې مې د جنون کوڅې ته
چې کشمالې مې په وربل کېښوده
لا مې په زغرده درکتلې نه وو
تور په تندې راته محل کېښوده
څنگه ترخې شېبې مې وزغملې
تا مې بیا د غېږ پر گوگل کېښوده

ستا محبت کې چې جنون وو اهه
ما هغه زړه ستا په محل کېښوده
راپورې خاندي ستا د چم ماشومان
ما چې دا ستا پر لاره پل کېښوده
فال مې کتلو په شعرونو کې خپل
قلم مې بیا لاس په غزل کېښوده.

کابل ۶/۱۳/ ۱۳۶۰

ځوانی شاعرې ګرانې غونچې فنا ساپۍ ته!

# غونچې ته!

ساړه شول او بې خونده محفلونه چې ته لاړې
لمبو سره ډغرې خورې وختونه چې ته لاړې
نيمګړی مې شو پاتې امتحان د اشنا يې
رقيب پر ما تمام کړه پيغورونه چې ته لاړې
ګومان مې داسې کېږې چې به بيا په درشل راشې
زمولې شول زما خواږه يادونه چې ته لاړې
خوښۍ مې شوې تمامې ما نيجن وختونه راغلل
مدام دې ميلمانه پر ما غمونه چې ته لاړې
رښتيا وايه اشنا چې کله ستا خاطر کې ګرځم ؟
ميرات شو راته پاتې ارمانونه چې ته لاړې
غونچې دې ديادونو لا هم نه دې مړاوې شوې
بې خونده بې مزې دې بهارونه چې ته لاړې.

۱۹۹۱/۷/۸ پيښور

# تعبیر

داسې خوب مې دی لیدلی چې راځي به
خامخا له لرې لارې
سوداګر د پېڅو زړونو
رارسیږي به منزل ته
سوې سا
ستومانه زړه ستړی بدن
جل وهلې وچې شونډې
ستړي زړونه
وړي وړي نظرونه

يو تربل به ميلمانه شي

هره خوا به هنگامه شي

چې ته راغلې

داسې خوب مې دی ليدلی

دا تعبيريې ما دی کړی

چې راځې به خامخا له لرې لارې!!!

او زما بې روحه ژوند ته

ته پلمه به د ژوندون شې.

۲۰/۵/۱۹۹۱ پېښور

# د سبا وون وږمه

په ماکي نخښبه د جنون پاتې ده
کومه جذبه دې د راښکون پاتې ده
لاس مې په زلفو ستا په یاد وواهه
لا خو وږمه د سباوون پاتې ده
تا ویلي را به شمه پوه یې که نه؟
لنډه شیبه مې د ژوندون پاتې ده
لا مې حیا په لوپټه کې ده چې
شمله اوچته د پښتون پاتې ده
سره بیلیږو به پوهیږم په دې
څو تما شه چې د ګردون پاتې ده
وروستۍ شیبه په سره لمبه کې ګوره
ستا د ازمون زما د یون پاتې ده

کابل ۱۳۶۶/۳/۳

# نیمه خوا هیلۍ

زه د ارمان د تناره په زړه کې
تر ایرو لاندې د خوړلن په لټون بوخته ومه
واړه واړه زګیروي
ساړه ساړه اسویلي
راته ترغوړشو، له ورا
زما اسرې وې امیدونه مې وو
آه چې ورو ورو سوځیدل
هغه تبجنې هیلې
نیمه خواشوې اسرې

خداوند اندیشه یار تو باد
ثنا و ستایش نثار تو باد
تو و من دو فرزند یک میهنیم
طراوت فزا شاخ یک گلبنیم
چو دورا ز وطن زندگی می کنیم
همه هیزم خشک یک گلخنیم
بغربت بسر می بریم از دیار
و ظاهر در انظار ما روزگار
ولی چون بتاریخ کردم گذر
بدیدم دران باز با یک نظر
که ما را درین شهر اگر خانه نیست
همه شهر از ماست بیگانه نیست
عمارات آن پر ز آثار ما
بویرانه ها گنج نهمار**** ما

**** نهمار بوزن انبار= فروان = بشمار

د تناره په زړه کې

لکه سپرغۍ ترکیدې

لکه شبنم څڅیدې

ترا ایرو لاندې په وړو وړو وریتیدې

جوخت له لوګیو سره

تلې د آسمان په لوري

نیمه خواهیلې زما

۱۳۶۶/٤/۱٤

# اوږدې وعدې

زړه کې مې چې ويښې ولولې شولې
پوه شومه چې سترګې مې بيا غلې شولې

نه مې شوويلی له سلګو سره
پاتې نيمه خوا چې مې اسرې شولې

هيلې مې د سترګو په ډوليو کې
ستا پر کلي راغلې جنازې شولې

کيمښول خالونه له سروو ينو نه
دا د ناز پرونې چې جنډې شولې

څو مره انتظار و وايه نور وکړم؟
ياره بيا اوږدې دې چې وعدې شولې

مخ کې د رقيب راته ګواښيږه مه
نورې د دښمن خوا وې سرې شولې

# د خوښۍ سوداګر

دا و چې سپېرې شونډې مې خندانه پېژني
دا غلی زړه ځیګر مې هم وفا ، نه پېژني

د خلکو په مخونو او په زړونو کې توپير دی
زما ساده باور خو هغه دا ، نه پېژني

لیمه مې لا هم نغښتي د حیا په لوپټو کې
تړلی روند نظر کور داشنا نه پېژني

دا وښکو، د غمو نو، د دردو یوه بیلګه یم
دا شونډې جل وهلې مې موسکا ، نه پېژني

چاوې چې دلته پیښه د خوښۍ د سوداګرده
دا ورکه ترینه لار ده ، که زما ، نه پیژني
احساس مي د غمونو په میچن دل شوی ښکاري
داوچ او سپور غزل مې هم ښکلا ، نه پیژني
په کاڼو د تومت مې د قمست کرښې شوې ورانې
نا دودي د ژوندون مې مسیحا نه پیژني.

۱۹۹٦/٤/١٤ پیښبور

# تیر پسرلی

ژوبلې ژوبلې تلوسې مې
پیغلې پیغلې اندیښنې مې
یو سبېه ده د غمونو
د بې سارې یادګارونو
د بې خونده بهارونو
زیړې پاڼې زیړ ګلونه
تا زما غاړې ته راوړه
امیلونه شو افسوس چې
پسرلی مې د ژوند تیر وو...

۲۰/۷/۹۶ پیښور

# پښتنه مینه

مینه پښتنه مې پښتنه ښه ده
ځوانه مې د زړه داولوله ښه ده
وچې اوسپیرې دې د پیالو شونډې
شاړه دا بې میو میکده ښه ده
زړونه چې مدام په غور ځنګونو وي
عشقه تکنۍ دې دا جذبه ښه ده
پریږده په پښتو دې چې نازیږمه
ستا شمله اوچته او درنه ښه ده
سِتا د پښتنی سردی سر تور نه وي
پیڅکه د پروني مې اوږده ښه ده
او ښکې بلوم په تیارو زړونوکې
ځکه د احساس ډیوه رڼه ښه ده
ته د صفیې کډې تړې ولې؟
ستالیوني کلي کې میشته ښه ده.

۲۱/۵/۱۳٦٦کابل

# پاینبت

احساس مې د غزل په اننګو کې راته خاندي
امید مې د تکل په اننګو کې راته خاندي

عجبه بېوسي ده چې هر څه دي رانه پاتې
ځواني مې داجل په اننګو کې راته خاندي

تیارو کې د وربل مې د یوې بلې دي دستر ګو
وختونه یې د ځل په اننګو کې راته خاندي

د ستر ګو ترنم مې چې د عشق پر ځمکه اوري
پاینبت مې د مقتل په اننګو کې راته خاندي

حیران مشه په دې چې د پتنګ غوندې ستې یم
ارمان مې د مشعل په اننګو کې راته خاندي .

۱۳۶۶/۲/۲۱ کابل

# گامونه

خپل خواره وربل کې مې گلونه ږدم
لور ته داشنا چې مې گامونه ږدم
زه تیاره گوگل د حسرتونو کې
ستا د خاطرو بل مشالونه ږدم
لارې مې گریوان کې اوښکو جوړې کړې
ستا د محبت پگې یادونه ږدم
زه درته لوگی شم بل ته څه حاجت
هسې هم سکروټونه خالونه ږدم
پوه نه شوم چې پته دې چارا کړله
ستا پرنا اشنا کوڅه گامونه ږدم
خبېږم چې بلۍ ته د شعرونو زه
زړه کې ستا د مخ پټ تصویرونه ږدم.

۱۳۶۶/۱/٤

## ... لیک

ډېره موده شوه
انتظار مې اوږد شو
خوږې شیبې مې د ژوند
سحر وږمې ، مې د ژوند
مخپټې مینه مې زړه تنګې شوله
اوس درته لیکم
په ښکاره یې لیکم
د پردیسۍ غمیزه
ځکه پرهر مې د زړه وغوړیده
او تلوسې مې ژوبلې ژوبلې شولې
له تا ګیلې نه کړمه

مگر د زړه خبرې یو په یو به لیکم درته
بې شمیره وږځې مې کړې پیل او انتظار مې وکړ
آه څه خوار.ه ځابنتونه
د خپل انګړ په کوټنۍ کې د چرګۍ غاړې ته کیناستم به
عجب خیالونه مې وو
یو شهنشا هه زه وم
یو تاج محل کې به مې ساواخیسته ټوله به مینه محبت به شومه
کله به هم د خپل انګړ د تناره غاړې ته
د دیواله سیوري ته کیناستمه سوچ به مې کړ
له سوي زړه به مې اواز پورته کړ او په وار به مې دا وویل چې:
« زما جانانه بې له تانه »
« پرما ودانه دنیا ورانه ده (مینه) »
غرمه به راغله کله سره اوسوزو ونکې غرمه
کله هم یخه او واورینه غرمه
کله ګرمۍ کله یخنۍ وسومه
داسې غرمې مې د ژوند تیرې شولې
مازیګرونو به هم زما ویده خیالونه

مزارات آن گور اجساد ما
جسدهای مغفور اجداد ما
اگر ناز یا نعمت اینجا، زماست
اگر گل و گر نگهت اینجا زماست
نیاید گذر ابری ز افغانستان
نبارد یکی قطره زآسمان
نباشد اگر آب اباسین کجا؟
زمین ها همه سبز و آزین کجا
سرایی که در آن سرای زتست
زبانی که در آن سرایی زتست
زبانهای دری و پشتو ز تو
میان اباسین و آموز تو
مپندار کاینجا سفر کرده ای
پس از دیر اینجا حضر کرده ای

د ګل د پاڼو په وړمو باندې راوتخنول
بیا به ګودر د منګوټو کې مشغولتیا وه زما
ګلونه ټول مې په پسرلو کې د ژوند
تا ته ځولۍ کې شا مدام وساتل
کله مې پټ پټ په اوربل کې یو نیم
کیدای شي ستا له پاره کیښول او بیا
زه مې د خیال پراوړو د لمر تر کلي تلمه
تا به مې هلته هر کلي ووایه
ما به ګلونه د ځولۍ پر تا در وشیندل ټول
تا به دانه دانه راغونډ کړل او ګیډۍ به دې کړل
ما ته ډالۍ به دې کړل
له خوشحالونه به مې
په ستر غلو کې اوښکې پنډې شولې
د میني پرخې به شوې
پر دې ګلونو به دانه دانه
راوڅڅیدې
ورسره جوخت به مې لړۍ د خیالو وشلیدله.

داسې بې ساري مرور وختونه
زما تر ځنګه تير شول

***

ځکه نو:
يو مازيګر وو يو ښايسته مازيګر
د خپل کور ګي د لمر خاته کړکۍ مې پرانستله
هلته مې خدايزده مخامخ باغچه کې څه وليدل
څو ګاونډي ماشومان راته ترستر ګو شول چې لوبې کوي
ما لي ګلونه کرل
مرغانو ځان له نوې ځالي جوړولې سره
او يو سپين ږيری مې کوت
چې د نور سو نيالګو
ميوو ته ځانګې ځانګې وغوړيږي
چې لاندې باندې ورته وګوري زلمی شي
د دې باغچې لمر پريواته لوري ته
د ميرې غز يوه بې ځانګو بې ثمره ونه
هسې ولاړه وه چې زه او سمه

هومره موده مې د دې ډډې ونې ويرنه وکړله چې:
پسرلي تير شول غوټۍ وسپړېدې ؟
گلونه پاڼې پاڼې ورژېدل
زه څه ته ونبورنيدم
او څه ته وهڅيدم
تا ته مې هر څه د يو ليک په ترڅ کې وليکل چې
چې! دا گيله مې په زړه پاتې نشي
او دا غميزه زياتې پای ومومي
تا ته يې وايم په تکرار يې وايم
که چيرې وشو چې مې ليک درلره ورسيږي
دا ناسپړلی ليک به پرانيزې چې څه دې په کې
دا مې کتاب دی د ژوند
دا مې دفتر دی د زړه
لا چا لوستلی نه دی
بس او س همدومره نيکې هيلې صفيه «صديقی» .

۹۶/۷/۲٤ سوات

# د مینې غچ

زما دې ځـیـرې ګـریوانه ته چې تا ونه کـتـل
هم مې په پښو کې زولانه ته چې تا ونه کـتـل
مینې مې لاس واخیست له تانه او توبه مې وکړه
دې د کلو نو بیلتـانه ته چې تا ونه کـتـل
زما ګوګل کې اوسیدې ایله مې وپیژندې
هغه خوږین شوي لړمانه ته چې تا ونه کـتـل
جانانه هله مې د ژوند لاره کړه بیله له تا
په زړه کې پاتې ارمانه ته چې تا ونه کـتـل
که رښتیا ووایم اشنا له تا مې لاس ووینځه
په لمبو سوي کوربانه ته چې تاونه کـتـل

د انتظار شـــیبـــې اوږدې شـــوې هیـــروم دې ځکه
پـه غـم لـړلـي ژونـد انـه تـه چـې تـاونـه کـــــتـل
د مـینـې غـج مـې در نـه واخـیـســتـه پـه تـوکـو تـوکـو
پـه مـحـبت کـې پښتـانـه تـه چـې تـاونـه کـتـل .

# افغانستانه!

ته مې مینه ته الفت یې
ته زما ژوندون یې پت، یې
ته غیرت د لویتې مې
ته مې شان یې، ته شوکت یې
ته مې تن ته مې وجود یې
ته کعبه مې د سجود یې
ته مې هست یې ته مې بود یې
ته مې روح ته مې کالبد یې
د یورپ جنت به څه کړم
د هند تاج او تخت به څه کړم
شنې لوخړې شوې ایرې شوې
دا اونښتې بخت به څه کړم
له زګیرونه دې واری شم
زه یې اورم ترې لوګی شم
د چابد نظر درپریوت
کاشکې زه دې سپیلنی شم
یه تیوتې تیوتې جانانه
زما خوږ افغانستانه!!!

## غوښتنه

ربه دماغ او زړه مې

په نور د علم او ایمان کړې روښان

ربه د لاس او هم له ژبې نه مې

چا ته ضرر او تیری مه رسوه

له بدو یلو، بدکولو نه مې وژغوره ته

له بدې لارې، بدې چارې نه امان غواړمه

ستا د کرم یم حاجتمنده ډیره

ما غوړولې ده لمن د امید

او په زار و مې خپل پلو خور کړی

له تا معافي د تقصیرونو ربه

ربه له تا نه خپله برخه غواړم

ستا نه عفت د قلم

ستا نه عفت د ژبې

ستا نه عفت د ناموس

له تا نه ژبه گویا

له تا نه فکر رسا

له تا نه دین او عقبیٰ

که چیرې رادې کړه هم ښه ده دنیا

عفوه کول د گناه

او بې ریا عبادت

له تا نه سوال کوم غوښتنه کوم

چې د ایمان رڼا یې

راسره مل وساتې

سر مې سر تور او بې پردې مې نه کړې

ستا د رحمت له دره

چې بې اسرې مې نه کړې

## يو شعر

تول ابنکه او ښکلا غم يم
سر تر پايه تول ماتم يم
ښادي نشته تول الم يم
زه جګرې يم ځورولې
خپل وطن هر يو شهيد ته

تو انصار هستی مهاجرنه‌ای
تو یی کد خدا و مسافرنه‌ای
تو فرزند محمود و احمد شهی
زاحفاد سلطان و شاهنشهی
مهاجر نبودند ابدالیان
مسافر نبودند محمودیان
سواران به این سرزمین آمدن
فرود اندرین جا ز زین امدن
در آمد شد خویش انصار و ناصر
«رحماء» به «مومن» «اشداء» به کافر
بکس امر غیر از عدالت نکردند
نکردند ظلم و اهانت نکردند
بسوی وطن باز گشتند زود
بشکر فتوحات بهر سجود

ترمې اوښکې تویومه

سوی ساندې غاړې وایم

د تورتم څپېړې خورمه

زوند ګیلې ګیلې لړمه

سوه ساندو او ګیلوته

دې حوږ منو شان وختوته څنګه ولیکم غزله؟!

***

له تیارو وم تښتیدلې

د رڼاوم هیله منه

د شفق را رسیدوته

زړه چاودون د ترورمو ته

بیا په روڼ ښکلې سهار کې

ښادوونکو شان وړمو ته

هغه د هغه شیبو ته

لاملحې د ژوند شمیرمه

انتظار دی انتظار دی

له کلو یې تیرومه

بس نو ته لاره رابنیه

دې نا پایه انتظار ته څنګه سازه کړم سندره؟!

***

ګونګې ګونګې ګونګوسې دې

زړه کې مړې مې تلوسې دي

ځکه هر څه ګونګي ښکاري

زداو ته دواړه ګونګیان یو

هر څه هر څه نور ګونګي دي

غم ګونګی

سلګۍ ګونګۍ ده

اسویلي ساړه ګونګي دي

یو ځل بیا له تانه پوښتم

دې خاموشه خاموشۍ کې څنګه ولیکم غزله؟!

***

چا ته جوړه کړم سندره؟!!

انځورونه سمبولونه

له کلونو جوړومه

خو په زړه کې يې ساتمه

چاته يې نشمه ښوولای

زه شعرونه جوړومه

تصويرونه جوړومه

سپينې پاڼې ډکومه

چاته يې نشمه لوستلای

چاته يې نشم اورولای

ځکه شعره زما شعره ؟!

ته او از د پښتنې يې

دا ستاستر زما ستر سزا وارته د پردې يې

ستا صورت بې سيرت مشه

که زه تور ستا د پټکي شوم

او پيغور د لوپټې شم

راته وايه راته وايه

د تورونو دې جهان کې

څنګه وليکم غزله ؟!!

***

څوک تصویر کړم په شعرو کې
غلچکو شانته کتوکې
چا ته ووایم په یره
په زما د زړه مالکه!
د غزل با چامې ته یې!!!
نشم نشمه ویلای
نه تصویر شم جوړ ولای
نه غزل شمه لیکلای
دې بیوسې بیوسی کې
څنګه ولیکم غزله؟
چا ته جوړه کړم سندره؟!

۱۹۹۱/۹/۲٤ پنهان کالونی پیښور

# پسرلیه... ؟!

ته راتر غاړې وځه

لږه دمه مې کړه ، تسل راکړه

لږه کیسه راته د نوي ژوندانه وو ایه

خوږې شیبې وستایه

او بیا د نوي فصل او د غوټۍ د غوړیدو وو ایه

د نیمې شپې د شبنم ، د پټ پټوني راتګ

نوم: صفیه صدیقی

د پلار نوم: عبدالرزاق صدیقي

زوکړه: ۱۳٤۲ لمریز کال نظر آباد، د سره رود اولسوالی ننګرهار ولایت، افغانستان.

زده کړه: د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی ۱۳٦۷ کال لیسانسه (LLB)

د پېښور پوهنتون د پښتو ژبې او ادبیاتو ماستره.

(M.A پښتو ۱۹۹۲)

**. د شاعرۍ نور اثار:**

لوپټه ۱۳٦۷ کابل

نالوستی کتاب ۱۳۷۵ پېښور

نیزوری داستانی مجموعه تر چاپ لاندی

د ګلپاڼو پټی تر چاپ لاندی

او ګڼ شمیر تحقیقی مقالی

زه...
انځورونه سمبولونه
له ګلونو جوړومه
خو په زړه کې يې ساتمه
چاته يې نشمه ښوولای
زه شعرونه جوړومه
تصويرونه جوړومه
سپينې پاڼې ډکومه
چاته يې نشمه لوستلای
چاته يې نشم اوروﻻی

زه...
زه يمه ونه خو د صبرونه
د پسرلي او تاندو څانګو انتظار کومه
زه د غوټيو او تنکو ښاخونو
او د ګلبوټو ارمان
په خپل ګوګل کې له ګلو ګرځوم
زما د غيرې زانګو
زما ځنګل زما د ليځو بالښت
د ستوماني احساس لانه دی کړی
زما پر شونډو اللو سندره
شوګير وهلې ده خو نه ده ويده

B
3.532
510
6417

شعر ویل د شاعر د ذات ځرګندونه ده. صفیه په خپل شعر کې لا پته

سپینی پانی د کومه
چاته یې نه شمه لوستلی
چاته یی نشم اورولی

له لوېتی نه تر نالوستی کتابپورې مزل کې صفیه تازه دمه لیدیشی، د صفیی مسافت د خپل ځان د غم ژړانه ده، دې شاعری خپل غم تش تر غم ذات پوری محدود نه دی ساتلی بلکی د خپل ذاتی غم نه نورو تر غمه پورې یې دومره مزل وهلی دی چې خپل غم تری شاته پاتی شوی دی د دی د مزل ملګری د نن انسان دی د هغه تهذیب دی د هغه تا لا ترغه ماضی دی، او دا حریانه دریانه ولاړه هر څه ته په ترهیدلی نظر ګوری او آخر ژبه را سپړی.

شاعر چې د خپلې ژبی غوتی پرانیزی او په رښتیا وراسرشی نو باید چې د هغه د ژوندواردات د یوې تجربی په توګه محفوظ کړی شی.

د صفیې د ژوند دا تجربې محفوظول په کاردی صرف خوندی کول یې جایز نه دی د صفیې د ښکلی سباوون نازک او رښتینی خوبونه د قام مستقبل دی صفیه چې څه غوښتنه کوی د خپل راتلونکی کول د پاره ی غواړی راځی چې د دی شاعری په زغل کې مورږ هم شریک شو.

زما دعا ده چې ستا خوبونه رشتیا شی، ستا حیرانی لاسیواشی او ستا تشی جولی ته ډیر څه راشی آمین!!

زیتون بانو
ګلبرګ ۲ پیښور
۵/۸/۱۹۹۶

خپلو پستو ورمو کې ونغاړه، کیسه یې وکړه

بیا د ګلاب پر پاڼه پاڼه باندې

د څو خاپونو او داغونو کیسه تا نه پوښتم

زه مسافره زه ستومانه ستړې

پس له مودو یم ستا په لور راغلې

ته راترغاړې وځه

لږه دمه مې کړه تسل راکړه.

۹۶/٤/۱ زما کلی نظراباد سرخرود

تو هم زود باشد که گردی سوار

روی باز سوی وطن شاهوار

از آب وطن باز نوشی به شکر

برین روزها دیده پوشی به شکر

«چو شب در میان» است***** ای دخترم

«خدا مهربان» است ای دخترم

***** یکی از ضرب المثل های مشهور افغانستان است.

# يوه پښتنه او د هغې شاعري

که د صفيې په شعري مجموعه زما سريزه ليکل د هغې يو خواهش پوره کوي نو زما له پاره هم دا د لوی اعزاز خبره ده چې زه د يوې افغانی پښتنې ليکونکې د شاعرۍ پر مجموعه د خپلو خيالاتو اظهار وکړم چې هغه نه يوازې شاعره او اديبه ده بلکې يوه زمرۍ پښتنه او باهمته جينۍ هم ده. چې د ژوند په گرد يشونو لوړژوروکښې خپله لاره او خپل ځای په خپله جوړول اومونډل زده دي.

زه صفيه له ډيرې مودې نه، پيژنم په حيث د يوې زنانه ليکونکې که زموږ جذبات او احساسات سره شريک دي خو په حيث د يوې پښتنې زموږ شناخت په صدو خور او د صدو زوړ پښتون ثقافت پښتو ژبه او پښتون تاريخ دی که ډير پخوا پيښور د افغانستان جونه د خپلو مينو په جدايي ژړولې دي او دوی په دې ويلو مجبورې کړې دي چې:

آخـــر به وران شي پيــــښورد
د ننگرهار جونه ښيرې درته کوينه

خو زه اوس خوشحاله يم په دې چې د افغانستان يوه پښتنه پيغله نن په پيښور کې لکه د خپل وطن د خپلو جذباتو او احساساتو اظهار د شعر په ژبه کوي او پيښور دوی ته د تکليف په وخت کې په خپله لمن کې تحفظ ورکړی دی.

ثقافت ژبه او تاريخ د قومونو د يوالي جرړې دومره مضبوطې ساتي چې د وخت هيڅ يو ظالم او طاقت د وئ د يو بل نه نه بيلولی شي او نه يې جدا کولی شي.

خو په ذاتي او صافو کښې چې زه څومره صفيه پېژنم هغه د مينې او اخلاص همدردۍ يو داسې مجسم صورت لري چې مثال يې ډېر کم موندی شي د پښتو ژبې، پښتو ادب او پښتو سره چې دا کومه مينه لري نو هغه په هر کانفرس، غونډې، مشاعرې او ادبي محفلونو کې د هغې د شرکت او مينې نه ښکاره کېږي.

هغه دومره جينۍ ده چې په ما هم د هغې د شخصيت يو نفسياتي اثر شوی دی. ما د هغې مجموعه کلام ولوستو د هغې جذباتي شاعري که د فن له رويه خپل معراج ته رسيدلې ده خو په حيث د يوې ښځې د هغې کمزورې ښکاره کوي خو په ما ډېره ښه نه لګي ځکه چې زه صفيه داسې ليدل نه غواړم صفيه د دې نظم تر شاو لاړه ده «زما ځواني»

## زما ځواني ؟!

له مامه پوښته چې ولې
داسې تل غمجنه ښکارم؟
زه د غم په ورځ پيدا يم
قرباني د يو بدلون يو شوا خون يم
د جګړو د توغنديو، د بمونو
قرباني د هوسونو
د تيرېو، فسادونو
د ناکامو غورځنګونو

***

ما خندا ليدلې نه ده

او غوټۍ زما د شونډو

نا بلده د موسکا ده

ځکه زه د غم بچی يم

غم مې مور ده، غم مې پلار دی

غم مې ورور دی

هم زما خوږه وړوکې

ناز ولې کشره خور ده

زه له دوی سره ميشته يم

دوی له ما سره خوشحاله

زه ژړيږم

دوی ژړيږي

سره ګډ ټول په ژړا يو ...

دا نظم چې د فن له رويه يو شهکار نظم دی او د صفيې د خپل ژوند عکاسي کوي خو زه صفيه نه بلکې ټولې پښتنې هم داسې ليدل غواړم د کومو جذباتو او احساساتو چې صفيې په دې لاندې شعر کې خپله اظهار کړی دی وايي:

بس اوس يې پوه کړمه په دې چې ژوندون

په منډه تلل غواړي

د ژوند توده بټۍ کې

لکه نيني چې پخيدل غواړي

# يو څو خبرې

د لنډيو په اړه ويل کېږي او ښکارېږي هم چې ډېره برخه يې د ښځو له خوا ويلې شوې دي، هغه کيف، خوند او شعريت چې په لنډيو کې وينو په ډېرو مرتبو او مشهورو د يوانونوکې يې نه مومو، که له بوې خوا د لنډۍ د قالب او چوکاټ اغيزوي له بلې خوا په دې خبره کې هيڅ شک نشته چې په لنډيو کې د جذباتو او قلبي تمايلاتو د اظهار مخه خلاصه دد. هيڅوک يې په شاعر يا شاعرې باندې تور نه شي پورې کولای، ځکه چې شاعر يې په ولس کې پټ وي او د ديواني شاعر غوندې مجبور نه دی چې شعر په شعارونو او موعظو بدل کړي.

او دا هم د سړي زړه منلای شي چې د لطيف جنس خيال، تصور او ژبه به هم له خشونته پاک او له لطافته ډک وي.

په پښتونو پيړيو کې زموږ نارينه په سلوکې تر نه نوي زيات بې سواد ان وو، پاتې شود ښځينه طبقه، بيا چې په زرګونو ښځو کې به يوه نيمه با سواده وه، حتی خبره نه وه چې هره با سواده دې شاعره هم وي، که به بيا هم په سل ګونو باسوادو کې يوې نيمې د شعر طبعه هم لرله د دود د ستور او قومي رواياتو له ډاره يې چيرته دا جرأت پيدا کولای شو چې د زړه ء له رازونو برغولی واخلي. چيرته چې د ښځې مخ حتی له شرعي محرمو شخه هم پټ ساتلی کيدو د زړه ء له رازونو به يې په کوم جرئت پرده اخيستله دا حال يوائې زموږ نه وو، بلکې په ډېرو ګاونډيو هيوادو کې مو هم دغه حال ووخو البته تر موږ لږ څه د زغم وړ.

په پارسي ادب کې ډېرې لوستې او تکړه شاعرانې تيرې شوې دي چې له پښتونو به د درې تنونومونه واخلم.

لومړۍ، رابعه بلخي چې عاقبت خپل وروړ د عشق په تور د خلکو له شرمه په حمام کې ووژله.

د زمانې ژرندې ته
په خپله تلل او د لیدل غواړي
برې مونډل دي همدا

که ادب د خپلو جذباتو احساساتو اظهار ته ویل کیږي، که ادب د خپل چارپیرچل عکاسي کوي، که ادب خپل خیال او مقصد په ښه هنر بل ته رسول وي، نو صفیه د دغه هنر په ښه کامیابۍ سره اظهار کولی شي.

ما د صفیې د اشعار مجموعه یوائې د مقدمې او تبصرې په نظر نه بلکې په تنقیدي نظر هم ولوسته زما خیال وو چې گنې زه به د هغې په شعر د هغې په هنر د قافیې ردیف یا د اصنافو په انتخاب لکه د نورو مجموعو ښه تنقید وکړم، خو ما ته په کې داسې څه په نظر رانه غله د دې کتاب په لوستلو مې دا یقین پخیږي لکه څنگه چې زنانه (ښځمنه ډله) د ژوند په نورو ډیرو میدانونو کې له ډیر احتیاط او حسن تناسب نه کار اخلي د غسې د صفیې شعر هم د خیالونو په تار داسې پېل شوی دی چې هیڅ کمې زیاتۍ نه لري او په لوستولو یې هم د موضوع او هم د روانۍ په لحاظ او هم د انداز بیان په لحاظ انسان ښه متاثره کیږي کله کله خو د دې شاعرې بې شکه په زړو نو داسې اثر کوي چې د ځینو اشعارو په لوستو په بنده عجیبه کیفیت خورشي د هغې سوچ د هغې فکر د هغې جذبات رښتوني دي صفیه چې څه هم وایي په مینه او اخلاص یې وایي د زړه له تله یې وایي هیڅ منافقت او دوه رنگي په هغې کې نشته ځکه خو په اصنافو کې هغې د ځان له پاره آزاد نظم چې دوئ ورته آزاد شعر وایي او پکښې سپینې خبرې کوې خوښ کړی دی.

سترگی مې پرانستې د ژوند له خوبه
د ماشومتوب له خوبه
د پیغلتوب له خوبه
د شین اسمان پراخې غېږې ته مې ودانګلې
هله مې ولیدل چې
د سترې ځمکې ناستومانه بچې
لکه بچو دلړم
په خپلو غاښویې مورو چیچله وې څیرله

دا بیا هماغه ګیله من تصویر دی چې صفیې د خپل ماحول ترجماني په علامتي ډول کړې ده.

وایي «ځمکه هماغه سوځي چې اور پرې بل وي». صفیه چې ښه ژوره مشاهده ري او د ژوند د دې ترخو حقیقتونو او تودو سړونه تیریږي هغه په دغه کیفیاتو هیدی شي چې خپل وطن څومره خوړوي.

له زګیرونه دې واری شم
زه یې اورم ترې لوګی شم
د چابد نظر در پریوت
کاشکې زه دې سپلینی شم
په تېوتې تېوتې جانانه
پر ما ګرانه زما ځانه
زما خوږ افغانستانه!!!

د صفیې د شعر ژبه اسانه، روانه او عام فهم ده هغه چې څه وبل غواړي بنده پرې

په اسانه پوهيدلی شي دانظم يې ډير مقصدی دی سپرليه، يو تريخ حقيقت، مسه څه ده، سوغات ... افغانستان او ... خاص طور د لوستلو سره تعلق لری د غزلونو مصرعې ښې خوندوری او زړه راښکونکې دی موضوعات يې مينه، محبت، وصال فراق، دی زه دا نه شم ويلی چې صفيه د پيغلو جذباتو عکاسی کوی بلکه دا وايم چې د ځوانو جذباتو عکاسه څه چې د دغی عمر د تقاضو ترجمانه ده.

صفيه يوه پوه هوښياره او با شعوره ليکونکې ده هر څه ته په ويښو او با خبره سترگو گوری محسوسوی يی او ليکی يې د هغی حساس نظر او حساس زړه او ذهن که په ډيرو څيزونو سترگې پټول غواړی خو د هغی ويښ ضمير د هغه هر څه پټولو نه ډډه کوی دا حساساتو او جذباتو دا عجيبه جنگ د دی د ژوند د فکر، نظر او جذباتو تله برابره ساتی د صفيې د قافيه والی شاعری څو نمونې:

زه د مينی انځور گره څه تصوير چې جوړوم يې
دا چې ته يې ورانه وی نو ځان ته وژاړم که تا ته
تا چې يادومه په شيبو شيبو شيبو اوری
تم شه مه ځه مه ځه دا جنون د اوښکوو گورد

يا :ستا په پښکی کې يمه خوښه غوټۍ
د ننگ شمله دی هسکولی شمه

د نيکو هيلو سره
سنير ريسرچ سپيشلست پښتو پيښور اکيډمی پيښور يونيورسټی.
سلمی «شاهين»

# نیمګښو

د بي بي حوانه راواخله تر بي بي صفيې پورې چې څومره ښځې تېرې شوې دي الله پاک د مينې او وفا په بې پايه خزانو نمانځلې دي له دې کبله د نړۍ ټول وګړي نن هم د ښځې د ذات دوړ مو په نشه کې ډوب ګرځي، د سائنس نه ثابته ده چې د سړي په نسبت د ښځې ټولې جذبې زياتې صادقې، نازکې، ژورې او شوخې وي ښځه د مينې او اخلاص يو داسې خور وور سمندر دی چې حدونه يې نه معلومېږي دا چې هر کار ته لاس اچوي نو سرته رسول په هغې کې انقلابي بدلون راوستل خپل فطري او وړومبی مقصداو مرام ګڼي. د سغلې صفيې په قول ښځه يو نالوستی کتاب دی چاونه لوستلی شو په ټول کائنات کې دا يوه داسې معمه ده چې چا حل نه کړی شوه، ښځه په خپله يو لطيف صنف دی او شاعري د فنون لطيفه سر چينه ده. که په نورو ټکو کې خبره وشي نوی غزل په شونډو د غزل مزه کا د سړو په نسبت ښځه يو مثبت انداز فکر او جبلت لري، د ژوند په هره چاره کې د امن مينې او رحم اړخونه لټوي، له دې کبله د فنون لطيفه په هر ډګر ښځه د نوي خيال او نوي رنګ پيدا کولو سره سره د مينې او حسن رنګونو له نوره مستې، شوخي او ځلاور بخښي او دغه د ښځې د ژوند د زغل او زيار ادانه وي، فلسفيان وايي چې د مينې چل د ښځې نه زده کول پکار دي

لوښه د بي بي صفيې وړو مبۍ شعري مجموعه ده بي بي صفيه د دې دور په همزولو شاعرانو کې خپله ځانګړتيا، فکري لوړتيا او ساهوتوب لري. د خپل فن په ځنه سترګه کې بې ساختګي، نرمي او خوږوالی د دې د خپل ذات نه ريږولي او اغستي شوي ضداقتونه دي، صفيه چې څه ويني څه اوري څه ګوري، څه کوي هڅو بروښه پرې نه دوړوي په ليک کې د ګډون او ټګۍ په چل نه پوهېږي په يوه پوهېږي

چلول د رغلي نه په خپله کنوي او نه يې فن ته نږدې پرېږدي، او هم دغه هر څه د ير فنكار د فکري الوت د پاره د وزرو کار کوي د دې فن د خپل دور د ريښتوني ترجمان، د ژوند عکس او د حالاتو هينداره ده.

شاعري د خپل ذات نه تولو پردو او چتولو ته وايي اوس دا د شاعر په اندرون ده چې بې پردې څومره زړه راښکون لري.

زموږ په خوږ هيواد افغانستان کې چې کومه ناروا وشوه، د هر پښتون په پام کې ده، د کابل دخوبانونه لمبه شوي تنورونه او تاوده نغري پاتې شول او د باګرام خړو خاوړو ته په هجرت مجبوره شول دې سانحې د دغې سيمې د اوسيدونکو زړونه ارې ارې کړل په دغه لمبو چانظرونه بايلل او چا زړونه، خو فنکار دغه هر څه په پټه خُله وزغمل، د فنکار خوش بختي داوي چې د اظهار ذريعه او وسيله لري د درد په بيان نه د ی يوازې خپل زړه سپک کړي بلکې د فن او هنر غيره د ملغلرو ډکه شي. محترمه هم د دغې خاورې په وينه وينه زمکه راتوکيدلی او سپروی شوی ګل دی.په کلام کې يې د اولس درد او د چا پيرچل ناروا جوت مقام لري. د پښتون تهذيب او ثقافت پاخه رنګونه او تودوخي د دې د شعر جامه ده. د پيغلتوب او عصمت خوشبويي او د ميني غورځنګ د دې د کلام روح دی.د شاعرې په حيث د صفيې سباوون ډير روښانه ښکاري.

غوټۍ مې د شعرونو تاندې تاندې غوړيدلي
غزل مــــې ليونی دی وايه ته راځې که نه؟

اباسين يوسفزی
پيښور يونيورسټي
٤ اګست ١٩٩٦

# د ژمرۍ په ګوګل کې د مومو ږره

زه که د صفيې پر ځای وای: نو د خپلې شاعرۍ د تول او ارزونې لپاره مې د خپل ګانبن برابره يوه صفيه کتله، ځکه چې د يوې بورې سبنه (سوه) په بلې بورې کيږي او هغه د پسرلي صاحب خبره:

« ... هر څوک بشري خواهشات، تمايلات او عواطف که څه هم ډير سره ورته دي، بيا هم محيطي، تاريخي او اجتماعي توپيرونو سرحدونه ورته ټاکلي دي او په هغو سره بيليږي او پيژندل کيږي، دغه شان د نارينه او ښځمنو ادبيات ځانله ځانله مشخصات او مميزات لري. « تبجنه سپوږمۍ »

خو زه د خواهشاتو، تمايلاتو او عواطفو له دې توپير او فطري رنګارنګۍ سره سره د صفيې پر دغو لاړونو او د تخيل د اسمان د ښيليو ستوريو د رڼا او ځلا يوه ځيرنه او ارزونه خپل او د صفيې ادبي حق بولم او دغه پرې يو څو تورې کرې کرښې تر تاسې بلهارۍ کوم.

د شعريت او شعري متن په باب اروانباد استاد روهي د نوماند ترکي شاعر (ناظم حکمت) له قلمه يو څو ټاټکي را اخيستي وايي:

شعر هغه خوږ غږې مرغۍ ده چې ورته غوږ نيول او ورنه خوند اخيستل پکار دي، خو که څوک د شعر تعريف او شته غواړي: نو د هغوی د مرغۍ له غوښې سره کار دی، نه له غږ سره. (شعريت يعنې څه؟)

که د شعر دغه شان تعریف د کاني کرښه او وروستی ټکی وبولو په تیره لوړی برخه یې، نو بیا د هر شاعر او په تیره ژموږ د شاعرې، په اوبو کې اور بلیږي او چې کله شاعر د ناظم حکمت غوندې څارنوال او مدعي العموم ولري، نو څنګه به دې ته غاړه ږدي، چې څوک دې ورته ووایي، چې داسې شاعري « په دې کیفیت » او دومره شاعري « په دې کمیت » پکار ده. زموږ په کولتوري او دودیزه ټولنه کې دګوتو په شمیر شاعران دې آرته ځان په غاړه ایښودو اړګني او دانه شي منلای او زغملای چې د هغه د شعر شوخ ما شوم دې د شاعرانه ویاړ او هوس سکروته راواخلي او څوک نقاد دې را منده کړي او ورته دې ووایی چې « پو »

خو صفیه له خپل ښځمن فطرت نه له مجبورۍ سره سره دا زړه او جرأت لري، چې د خپل شعر د وینې سلاید د نقاد د ازمیښتون (لابراتوار) پرککوین او مایکروسکوب کیږدي او د رنځ له میکروب نه د یوه پاک تشخیص شوي شعر سوغات خپلې ټولنې ته وړاندې کړي.

صفیه زړوره او زمری ښځه ده، ماته یې په خوله هم ویلي او لیکلي یې هم رالیږلي چې:

د دې کتاب د ترتیب، تنظیم او ... ټول مسوولیت ستاسو پر غاړه دی خو د ریغه چې زه خو هم دومره زمری وای، چې پی او اوبه مې بیلولی شوای. زه خو چې ډیر زورور کړم، نو ورځه په اوبو کې به لوټه کیږدم او پرې تیر به شم، هغه هم په توکل په هنر او شعر و شاعرۍ کې د نوښت مساله د هنر پوهانو په اندیوه سره او داغ موضوع ده، چې د هنر په ارزونه کې پرې ډیر حساب کیږي. ځکه نو زه د صفیې د شعر د یو څو

بیلگو په راوړنه یسیاکیږم او یا هم داوګنئ، چې لا به پکې نور نوښتني جاجونه او مفاهیم وي نه او لا به یې د نبض د ټوپونو په امرنه او تشخیص کې زما د ذهن ګوتو کار نه وي کړی:

تــــاوده تاوده چې نغري پاتې دي
دامــــې پلوکې سپیلني پاتې دي

« مخرونی »

هیلې مې د سترګو په ډولیو کې
ستا په کلي راغلې جنازې شولې

« اوردې وعدې »

تا ته د زلفو په تیاره کوټه کې
د یوې د سترګو بــلولې شمه

« د شعر اسمان »

زه د صفیې په شاعرۍ کې پرځان د مبالغې له توره پرته په ځغرده دا ویلای شم، چې صفیه که د خپلې دغسې شاعرۍ په لوستو د حمزه، بابا غوندې د حیرانۍ ایینه شی، نو حق لري:

چې خپل غزل له چانه واورم حمزه
وایــــم چې چا هسې وینا کړې ده

خو د دې تر څنګ بیا د صفیې د شاعرۍ د سیکې دا بل مخ هم د کتو دی، چې په

هغې کې بیا ځینې داسې پیکه او بیخونده بیلګې سړی لوستلای شي، چې یوائې نقاد لوستوال نه، بلکې په خپله صفیه به هم داومني، چې یره ما د مرغلرو پرځای مشکنې پېیلې دي.

خو زه له دې هر څه سره سره درنې صفیې خورته د ساهو هنر او ادب په منځته کولو کې پردعاوو سربیره د دې تولګې په راوتو مبارکې وایم.

که یې د پښتو په کچکول کې دا هم نه وای اچولي، چایې څه کولای شول؟

همداسې زمری او پتمنه دې وي

ننګرهار

محمد آصف صمیم

٤/ ٣٠/ ١٣٧٥

جلال آباد

درنې پښتنې، ملالی شانې پیغلې صفیې صدیقي ته :

عبدالمالک بیکسیار

## د پښتو ادب مالیارې ته!

تا،
په د پامیر او هندوکش کوترې!
په د خیبر او تاترې ښاپیرۍ!
په د غرور او د ټینګ هوډ ملکې!
په رڼو سترګو دې د ژوندخوږوته شاکرېده
او په الماسو اوډیوو د خپلواښکو باندې
زموږ د خلکو دې تیارو، سپیرو جونګړو ته رڼاورکوې
او د خپل ژوند، دخوږو، شپو، ورځو په بیه باندې
لکه ما لیاره مدام،
را ټولوې «سوژې، واژې» له خپل ترخه ژوندانه.
کله ردیف لټوې
کله په سوچ د قافیو کې ورکه ورکه ګرځې
او بیا د خپل شعر په ټنکیو وږمو
زموږ پښتو ادب ته ساورکوې
او له هر شعر، هرې غزلې سره
ځان لکه شمه سیځې
او د پښتو پر لمن
سورکې ګلان ټوکوې.

کابل ۱۳۶۶/۶/۲۹

دوهمه: زیب النسا ء د اورنگ زیب باچا لوره چې مخفي یې تخلص و که به یې ویل:

بلبل از گل بگذر دگر در چمن بیند مرا　　بت پرستی کی کند گر برهمن بیند مرا
در سخن مخفی شدم چون بوی گل در برگ گل　　میل دیدن هرکه دارد درسخن بیند مرا

یا دا چې:

بشکند دستی که خم در گردن یاری نشد　　کور به چشمی که لذت گیرد یداری نشد
هر متاعی راخریداری است در بازار دهر　　پیرشد زیب النسا ء اورا خریداری نشد

زیب النسا ء د باچا لور وه هغه هم د اورنگ زیب غوندې د یوه دیکتاتور باچا لور، چاورته ویلای شوای چې پرمخ دې څو گلونه دي؟

دریمه: مهستي وه، مهستي هم دوخت له دربار سره د نژدې اړیکو ترشنې زرغونې «بوډۍ ټال» ټوپ کړی وو، د وژلو او ترټلو قدرت یې چانه درلود او د خلکو د خبرو پروا یې نه ساتله. په معاصر ادب کې پروین اعتصامي ټول اخلاقي شعرونه ویلي دي، فروغ فرخ زاد د شعرویلو په جرم خپل خاوند طلاقه کړه خو دې په ډیر خلاص مټ خپل تأثرات او تمایلات په شعرونو کې څرگندول، په دې وخت کې د ایران فرهنگي سطحه ډیره لوړه شوې وه د دې او دغه شان د سیمین بهبهانې شعرونه هرچا خوښول. دې خواته یعنې زموږ په هیواد کې لا بیا هم د باسوادو میرمنو نظمونه منظوم شعارونه وو یا ورځنیو پېښو لپاره د کمزورو منظو موسرمقالو غوندې خبرې وې.

مثلاً د مور د ورځې لپاره، د استقلال د ورځې لپاره، د ملي وحدت لپاره، ...چې یوبیت یې هم د یوې درد مندې ښځې د زړه ء آواز نه و.

په ۴۰ موکلونو کې ماته دا فکر را پیدا شو چې هر کله زموږ پیغلې او ناوې د لنډیو غوندې نازک او لطیف شعرونه ویلای شي ولې یې دا کیفیت په نظمونو او غزلو کې نشته؟ دې نیتجې ته ورسېدم چې دلته تر اوسه کومه بانو فروغ نه ده پیدا

# زما ربه

ربه زما که گناهونه دي ډير
ستا په دربار کې رحمتونه دي ډير
له تا بخښنه د تقصير غواړم
زما په پښو کې زنځيرونه دي ډير
له جزا گانو نه دې تر هه نه کړم
ستا په وعدو کې جنتونه دي ډير
په قل هو الله احد ډاډه يم
که ستا په شان کې صفتونه دي ډير
هومره چې ته رحيم رحمان يې ربه
هومره مې زړه کې اميدونه دي ډير

# نالوستی کتاب؟؟؟

اوزه؟!

زه د رڼګ شوي کور زړه تا خچه کې

په څو زړو تونو کې

زړو زړو پردو کې

تا و راتاو یمه

لرې او پنه د هرچا له سترګو

زه له مودو نه غلې

لکه کتاب چې چا لوستلی نه وي

څوک يې لوستلی نشي

يو لاروی پيداشي

د دې کتاب داخيستو تکل يې ولمسوي

صرف تصويرونه او کرښې کرښې يې وګوري او

زړه يې تنګ شي

بيا په درنښت يې کيږدي، زړه کې وايي:

عجب کتاب دی خو لوستل يې ګران دی

دا فلسفه نه ده نجوم نه دی او طب هم نه دی

له ځانه پوښتي چې داڅه به وي کتاب دی که نه؟

او بيا يو بل ستړی ستومان شي راستون

د دې کتاب د درلودو مينه يې وهڅوي

او په افسوس ورته له وراوګوري زړه کې وايي

ښه دی، ډېر ښه دی خو لوستل يې ګران دی

پرې پوهيدل هم ګران دی

زه يې منم ورسره

ځکه چې زه ؟!

همدا کتاب او څو کرېږ کرښې یم

زه یو کتاب یم، یو خاموشه او نالوستی کتاب

یوه کیسه یمه یو شعریم د ژوند

زه افسانه یم د جنګ

په ما کې مینه ده، مېړانه ده ننګ

هغه کتاب یمه چې

څوک مې لوستلی نشي

اپریل ۱۹۹۵ لاهور

# پوښتنه

راغلی پسرلی دی وایه ته راځې که نه
خوشحاله مې زړګی دی وایه ته راځې که نه

زما د تورو زلفو پسرلی شه له تا ځار
ژوندون مې درواری دی وایه ته راځې که نه

راځه چې انتظار دې کړي ګودر د منګو تږو
وه څه مازیګری دی وایه ته راځې که نه

دا چا درته ویلي چې زما وروستي سلګۍ دي
لا تود مې اسویلی دی وایه ته راځې که نه

غوټۍ مې د شعرونو تاندې تاندې غوړېدلې
غزل مې لیونی دی وایه ته راځې که نه

دا بیا د لیونو د راتلو زیری چا راوړی
اختر پر ما کمکی دی وایه ته راځې که نه

ظاهر چې راته ګوری مازیګر مې د ژوندون دی
احساس مې لا زلمی دی وایه ته راځې که نه

۱۳۶۷/۱/۱۰

# تلپاتې غمیزه

زه لا پیغلوټې وم چې:

د بیزوګانو ډلې

زموږ د کلي په کنډرو باندې واوښتلې

دا له وختونو نهر

پرشا او خوا باندې خواره شول او حمله یې وکړه

زموږ د کلي د باغچو ګلان یې وشوکول

او پاڼې پاڼې یې کړل ویې رژول

زموږ د باغچو د تاندو څانګو د مرغانو ځالې

تل او ول شوک په شوک شوې

او د مرغیو د خوږې خونې هم رنګې شولې

یو شور ماشور شو پیدا

او چغهار شو د بې ځالو مرغو

لکه سیلۍ چې له توفان سره پخلا شي تندرونه جوړ شي

***

چې سیلاو ونه جوړ شي

زموږ ماضي او مستقبل

د دې تړون په وجه بس نیزوږي شول تا لاوالا شول

زموږ د کلي د څپانده ویالو د بهیدلو آواز

لکه نور سې پیغلې د سپید ارونو کرشمې نازونه

د لښتو لښتو ځانګو

په تش سیلۍ کاږه واږه نخیده

او زموږ د کلي خوښۍ د دې مرغانو شور کې ورکې شولې

او د دې کلي خلک

واږه بې کوره شول ترغې په ترغې

بس په څو ورځو کې ولاړ فصلونه

شو د یاز شو د یار شول

او تړ پښو لاندې شول

زموږ د باغچو ګلبوټي

څنګه چې پیغلې شوې جل ووهلې

د بیزو ګانو د مستۍ په وجه

زموږ د عمرونو خوشحالی تالاو الا شوې او بې کوره شولو

# ارمان؟

زما د زړه په هدیره کې له کلو نو ښخه
له جرړووچه مینه
لکه زلموټي شهید
او ځوانه کونډه ناوې
او یوه وراره او بې وروره پیغله
او یوه بوره ابۍ
او یو بوډا او ویرځپلی بابا

اړ لکه په ژمي سپيدار، چې لوڅ لغړ وي او تو دوخه غواړي

له تا ګيلې لري او ډيرې ګيلې

***

زما په شونډو وچې سپورې موسکا

تا ته د عشق سندره پيل کړه خو تا وانه وريده

زما د ګوګل په لمبو سوې سلګۍ

تا ته غزل شوې خو تا ونه لوستې

اوس مې په وچو شونډو سپوره خندا

له تا ګيلې لري او ډيرې ګيلې

***

زما وربل او زما پريشانه زلفې

د دې په تمه چې راځي او ما ته ګل راوړي

د حوادثو په ناتار سپيرې شوې

تا راته ګل څنو کې کيښنښوده

زما ليمو زما د سترګو کسو

تا ته کوډله د بڼو ساتله

خو ته راپیښ نشوې پر دغه لاره

تا مې د سترګو انتظار ونه کوت

اوس نو د اوښکو ملغلرو سره

له تاګیلې لري او ډېرې ګیلې

***

زما د منګولو سترګې

ستا له کاله نه د نکریزو دراوړو په تمه سپینې شولې

او زما لیچې مړوندونه ګوره

چې ستا د عشق د زولنو په تمه

لا بې وښیو بې بنګړو پاتې دي

خود به مې زړه او دا ستومانه ژوندون

له تاګیلې لري او ډېرې ګیلې ...

۱۶/ ۱۰/ ۱۹۹۵ پنبهان کالوني

شوې چې د لومړي ځل له پاره د ادب د ودې په خاطر سوک تر کتنې وباسي. هغه وو چې ما د پيغلې ښارو په مستعار نوم څو پارچې شعرونه وليکل چې ډيره برخه يې د زيري په جريده کې خپاره شول او اتفاقاً د ډيرو خوښ شوي هم وو.

خو له ښه مرغه نن سبا زموږ په ښځمنه طبقه کې ګڼې شاعرانې را پيدا شوي دي چې په خاص طور د محترمې خور پروين ملال او، ګرانې وريرې صفيه صديقي نومونه د يادولو وړ دي. (څرنګه چې پيغله صفيه ما ته کاکا وايي ځکه مې وريره وبلله) د محترمې خور پروين جانې د شعرونو يوه وړه مجموعه څو کاله پخوا خپره شوې وه او د ګرانې صفيې جانې د شعرونو دوهمه مجموعه اوس تر چاپ لاندې ده.

د صفيه جانې مجموعه مې په منډه منډه ولوستله، د دې دا شعارو لوستلو ديته وهڅولم چې د دې له دې مجموعې خپل بڼداشت په څو کرښو کې ګرانو لوستونکو ته وليکم.

د چا پر کتاب ليکل دوه ډوله دي، لومړی هغه آسانه ليکوالي ده چې د ستاينې جملې او کلمې يې تقريباً سره ورته دي لکه د پخوا زمانو ليکونه چې يوه دوست به بل ته ليکل: دوعا و سلام، خيريت و انجام، بصد شوق تمام... از جانب حقير، فقير، خاک پای عالميان بخدمت...

په داسې تقريظونو کې بيځايه ستاينې دې حد ته ورسيږي چې له عادي ليکوال څخه نابغه او تر هغه هم لوړ انسان جوړ کړي، او د هغه ژوند او آثار و له برکته د پښتو ادب له جهاني او نړيوال ادب سره اوږه په اوږه روان وبولي.

دوهم ډول يې دا دی چې د مجبوريت له مخې او صرف د شاعر يا ليکوال د خوشحالولو په خاطر نه وي بلکې تقريظ ليکونکی د خپل زړه ء غوښتنه دې ته اړ باسي چې څه وليکي اثر يې لوستي وي، لږ او ډير ورباندې پوهيدلی وي او هغه چې څه يې په زړه کښښستي وي نور وته يې هم وريه ګوته کول غواړي.

زه دا دوهم ډول تقريظ خوښوم، که مې کله د چا پر کتاب څه ليکلي وي هغه به مې

# معذوره غزل

چې اشنا ښکاري بدل څه به تصویر کړم
په زړه پاتې شو اوربل څه به تصویر کړم
نه سوځې شته نه واځې نه سمبولونه
شو معذوره مې غزل څه به تصویر کړم
ما ویل گل به د سپرلي څنګو کې کېږدم
شو سپېره دا تور وربل څه به تصویر کړم
تو دیدو ته مې د عشق لمنه راښکه
شوم ستي په اورجل بل څه به تصویز کړم
له دنیا نه خلکو جاج په هنر واخیست
نه هنر راغی نه چل څه به تصویر کړم

ستا په لور لاري اغزني وي اوږدي وي
ورک له مانه شو مقتل څه به تصوير کړم
چي اشنا مي ګل د بل څنګ کي کيښود
نيمه خوا مي شو منزل څه به تصوير کړم .

۲۲/ ۱۰/ ۱۹۹۵ يونيورستيي ټاون، ډاګار

ډالۍ زما تره، زما استاد او مشوق، عبدالمالک جوهر صدیقي ته!

# د ژوند جوهر ته

یاره تا غـوندې د لبـر ته حـیـرانیـږم حـیـرانیـږم
د ځـوانۍ دغـه منظر ته حـیـرانیـږم حـیـرانیـږم
نه سـلام درته کـوی شم نه په مـینه درکـتی شم
دې بې خـونده شان اختـر ته حـیـرانیـږم حـیـرانیـږم
ستـا یادونه مې ژوندی کړي خوشحالي شي پر ما جوړې
بیـا د اوښکو سـمندر ته حـیـرانیـږم حـیـرانیـږم
تلوسې ستـا د دیدن مې خدائ خبر چې چیرې بیـا یې؟
ببـر سـرو سـتـاو درته حـیـرانیـږم حـیـرانیـږم
جګې جګې زمـا ژونده یو ځل بیـا له سـره راشـه
بې له تا مـې حـال او تر تـه حـیـرانیـږم حـیـرانیـږم
که هر څو دې هیـر ومـه بیـا سـتـا مینه مخ ته کیـږدې
د ناصح دغـه منتـر ته حـیـرانیـږم حـیـرانیـږم

زړه مې داسې راته وايي چې ټول عمر ترې قربان شه
خدايه ستا دغه جوهر ته حيرانيږم حيرانيږم
څه خواږه خواږه وختونه زړه مينه مې ځوانيږي
اې زاهده ستا هنر ته حيرانيږم حيرانيږم
لوپټې ځومره درنې شوې داوختونه بدل ښکاري
صفيه ځې بيا ګودر ته حيرانيږم حيرانيږم.

۱۹۹٤/۲۱/٤ ډنمارک

ډالۍ :

*لوی شاعر، لیکوال او سیاسي شخصیت استاد اروانباد عبدالرحمن پژواک ته!*

## د هیلو پژواک

زما د وطن له تودې غیرې لرې

هلته د غرونو شا ته

په هاغه لرې ښار کې

هلته چې زما د وطن

خوږه هوا نه لګي

هلته چې زما د وطن د بلبلانو نارې

هلته د مستو او څپاندو ویالو

هلته غږمباد آباسین د اوبو

څو ک بوږنولی نشي

هلته زما د هندوکش او پامیر

له لوړو لوړو څوکو

بوي د وطن نه راځي

په هاغه لرې ځای کې

زما د ګران وطن ځلانده ستوری

د علم پوهې ډیوه

د مظلومانو د خوارانو پژواک

د یو محکوم ولس د خلکو ژبه

مدام ګویا د غورځنګوا وپتنه د ناهید

د امیدونو او دهیلو پژواک

د اولسونو د رنځونو بیان

د توږتند مشالونو پژواک

عبدالرحمن ودقامونو شاعر

.زړه د ختیځ د علم

د دې وطن د پوهې دواړه سترګې

د تورو غرونو شاته

دلویو دښتو اوسیندونو خواته

لویو ښارونو او بنګلونه پنا

له امیدونو آرزو ګانو سره

سترګې يې پټې شولې

امیدې پاتې شولو

د دې وطن دخپلواکۍ سندره

د ده مرۍ کې مړه شوه

دبیا راتلو هیله يې

د ګران وطن په لورې

پټه په زړه پاتې شوه

روح يې روان دی درومي

د ننګرهار په لورې

او د سره رود لمن ته

څه بې پروا وردانګي

چې د کلونو ستوماني وباسي

پوه يې که نه عبدالرحمن پژواکه!

وطن دې هم سترګې پر لار دي درته

اوږد انتظار يې وکړ

غيږ يې پرانستې داسې وايي درته:

اوس د کلونو ستوماني وباسه؟!

جون ۱۹۹۵ - پيښور

# هیله

د بیلیدو دې راته مه وایه څه
د دې شیبو دې راته مه وایه څه
لکه باران شیبې شیبې وریږم
یاره د تلو دې راته مه وایه څه
خوار د قسمته چې په ښه مې نه شوې
د بدلیدو دې راته مه وایه څه
عشقه میلمه مې کړه د وصل پر کور
د شو ګیرو دې راته مه وایه څه
د سوال ځولۍ به په سبا پسې وړم
د اوږدو شپو دې راته مه وایه څه

توتي توتي ښه يې زړ ګيه مات شي

درغيدو دې راته مه وايه څه

څو به په سترګو کې ګيلې کړې راته

د دې پښتو دې راته مه وايه څه

لکه د اوښکې مې ليمو کې اوسه

د توبيدو دې راته مه وايه څه

۱۳۶۶/۱۳/۱

ځوانيمرګي غوندې هيلې ځوانمير ګ غوندې وختونه

څه بې قدره غوندې اوښکې څه بې قدره ګريوانونه

ستا له کلي مرور د صفيه بير ته ستنه شوه

په اوربل کې ورته کيږدئ ته غونچې غونچې ګلونه

د خپل زړه په لمسونه لیکلي وي، نو له محترمې خور صفیې هیله کوم چې د ډېرې مبالغې انتظار دې راڼه نه لري.

د صفیې جانې په دې مجموعه کې دوه ډوله شعرونه دي (البته د شکل او فورم له مخې). څه غزلې دي او څه یې آزاد شعرونه.

شعر دلته په پیښور کې بیت ته وایي خو زه یې په هغه معنانه پېژنم بلکې هغه کلام ته چې له زړه راوزي او په زړونو کښېني که هغه یو بیت وي که سل بیتونه شعر یې بولم، ځکه مې د آزاد نظم پر ځای آزاد شعر یاد کړ.

زه په خپله د آزاد شعر شاعر نه یم خو ازاد شعر که واقعاً شعر وي خو ښېرې مې مخالف یې نه یم. زه وایم کله چې شاعر قافیه او ردیف د مضمون د سر سپیلنی کوي او د بیتونو د مسرو په لنډولو او اوږدولو کې ځان ته پوره واک ورکوي باید د منلو او مقید و اوازنو او دغه شان د قافیې اور دیف په بدل کې څه نورې ښیګنې په خپل شعر کې ځایکړې چې د کلاسیک ادب ځای ونیولای شي، څرنګه چې په نوي یا آزاد شعر کې د شاعر لاس خلاص دی شاعر مجبور نه دی چې د قافیې او ردیف د دوو سترګو لپاره د خیال او مضمون مخه واړوي او یا ورنه نیمه خوا پاته شي، دغه شان شاعر کولای شي چې ښه لفظونه، ښه ترکیبونه او نورې لفظي او معنوي ښیګنې په شعر کې ځای کړي د وزن او آهنګ په برخه کې هم که شاعر له موسیقي سره آشنا وو ښه په زړه پورې آهنګونه پیدا کولای شي چې په دې توګه د شعر له غنا سره موسیقي ته هم غنا وبخښي. که دا نه وي او داسې ونه کړای شي بیا خو نو پلاستیکي لوښي دي چې هیڅوک یې د جانان او ګردنر له زړو لو ښو سره نه برابر وي.

د صفیې جانې نوي شعرونه تر ډېره حده کامیاب دي، نه د ځینې معاصرو شاعرانو غوندې د بې رابطه الفاظو پیوستون دي، نه له خیال او تصویر څخه خالي خبرې دي. دوه پارچې به یې د نمونې په توګه راوړم:

# زما ځواني ؟!

له مامه پوښته چې ولې ؟
داسې تل غمجنه ښکارم ؟
زه د غم په ورځ پيدا يم
قرباني د يو بدلون يو شوا خون يم
د جګړو د توغنديو ، د بمونو
قرباني د هوسونو
د تيريو ، فسادونو
د ناکامو غورځنګونو

***

ما خندا لیدلې نه ده

او غوږ زما د شونډو

نا بلده د موسکا دي

ځکه زه د غم بچی یم

غم مې مور ده ، غم مې پلار دی

غم زما مشری ورور دی

هم زما خوږه وړوکې

گرانه گرانه کشری خور ده

زه له دوي سره میشته یم

دوی له ما سره خوشحاله

زه ژړېږم

دوی ژړېږي

سره گډ ټول په ژړا یو

او ښکه او ښکه زمونږ ژوند دی

ځکه دا ساړه آهونه

دا خیرن ببر سرونه

دا چاوډ لې وچې پوندې

ښه بیلګه زمونږ د ژوند ده

نامراده نه ښاد یږو

مونږ په دې نامه یادیږو .

له خیاله می کړی لری ستا خاطر می کړو پردی

په کور کې د غزل می چې تاثیر د هنر وسو

محفل کې د اغیارو ستا په سر شوی پیالی ماتی

خاطر دی بیوفا شو چې زما په تنر وسو

# شډل وختونه

دا ځــه بدل غـــونديږ وخـــتـــونه راځي
خــوا،ږه غــزل غـــونديږ وخـــتـــونه راځي

د مـــينيږ اوره رالمبـــه خـــو نه شــوي
پر مـــا اجل غـــونديږ وخـــتـــونه راځي

اشنـا د زلفـــو تيـــاريږ ځله غـنديږ!
داسـيږ وربل غـــونديږ وخـــتـــونه راځي

فـــارغـــه نه يمـــه چيږ وديږ ســتـــا يم
کله اول غـــونديږ وخـــتـــونه راځي

نـه ديږ په خـــوب نه ديږ په ويښـــه وينم
دا کـــوم شــډل غـــونديږ وخـــتـــونه راځي

په ديږ بيږ خـــونده شـــعـــر مـــيږ مـــه گـــرموئ
داسيږ ارجل غـــونديږ وخـــتـــونه راځي

د صـــفـــيـــيږ پرغـــزلـيـــز ژوندانـــه
کله کـــابل غـــونديږ وخـــتـــونه راځي.

١٩٩٤/٢١/١١

# نیمګړی خوب

څه نازولې شپه وه

څه بختوره شیبه

لا مې یادېږي چې ته

زما کوټې ته راغلې

پر ته له دې چې ګنې

څوک دې زما کوټه کې وګوري او ګرم به دې کړي

زما د کټ پر بازو کیناستلې

او له هیبته مې تا لوکې ژبه ونښتله
ته هم زما په شانې
لکه په نیمو شپو ډیوه سوزیدې
هیڅ دې ویلای نشول
یوازې سترګو مویو ، بل ته کتل
زړونه مو ودرزیدل
شونډې لا هم خاموشې
په دې کې سترګې په خبرو راغلې
د زړه رازونه پیل شول
ما کړې له تانه ګیلې او تا به له مانه ګیلې
هرڅه ګیله ګیله شول
سترګې ګیلې ، زړونه ګیلې ، هیلې ګیلې ګیلې شوې
محوه شو ، ورک شو یو د بل سترګو کې
زه د ملا په بانګ را ویښه شومه
وې « مؤمنانو لمونځ تر خوبه ښه دی »
ما وې بیشکه مګر خوب مې پوره شوی چې وای ؟!!

۷/۷/۱۹۹۵ پېښور

# ترهیدلي ارمانونه

چې په ګوګل کې مې رازونه ژاړي
دنم پرځای سترګې رودونه ژاړي
دغه ناسور ګوزار د تورې نه دی
زما په زړه د خولې زخمونه ژاړي
خزان مې يوړلو سپرلی د ژوندون
لاس په تندي مې بهارونه ژاړي
خواره واره تياتر کې ګورې که نه
وربله خور شه بارانونه ژاړي

ستا له مالته د زګيروو آوازدی
کوم ترهيدلي ارمانونه ژاړي ؟
سپرليه تم شه ما هم ګوري که نه
ماته غونچې غونچې ګلونه ژاړي
که دې په خوب که دې په ويښه وينم
سر په څنګل مې اميدو نه ژاړي
داسې له غمه ډک غزل به ليکم
څو مې تنکي شعرونه ژاړي
تا ته غمې د خپلو اوښکو کړم
څو په سينه کې مې دردونه ژاړي .

۱۹۹۰/۲/۳۰ پيښور

# اباسین ته

څپې څپې څپې شه اباسینه که مې وړې
زما د ژوند لمحې شه اباسینه که مې وړې
خواره واره دامونه دوصال په هره لور کړ؛
لمنه دلیلې شه اباسینه که مې وړې
له برې راته راوړه تول غمونه د جانان
په ورو ورو رانږدې شه اباسینه که مې وړې
د ژوند د پریشانیو رانه مه کوه پوښتنه
د اوښکو قافلې شه اباسینه که مې وړې
سلګیو کړم ستومانه ماهیجنه یم له ژونده
راپورته شه لمبې شه اباسینه که مې وړې
بې کوره بې وطنه یم چې تانه پنا غواړم
اسره د بې اسرې شه اباسینه که مې وړې
په اوښکو لوند ګریوان مې راته ستا لمنه ښکارې
بې شانه وسوسې شه اباسینه که مې وړې
حرام مې کړه خوبونه اوڅپې واخله بې شانه
غزل د صفیې شه اباسینه کې مې وړې

پتنهان کالوني پيښور ۱۳۷۰/۱/٤

# دوه غمرازي

## (۱)

### مور

او که زه نه وای

که زه مور نه وای

که زه ا حرانه ومه

د با با آدم د بچو نسبه نبیره به نه وای

***

او که زه نه وای که زه مور نه وای

که می اوږده موده په خیټه گرځولی نه وای

ژوند ته

اوښکو مې ستا له لاسه
له پښتنو سترګو نه
څېرې ګرېوان ته اراده د تویدو وکړله
په نیمه لاره کې پښیمانه شوې غیرت ونیوې
په سترغلیو کې مې
تاوې را تاوې شولې
له شرمه نه تویدې
دومره مجبوره شوم چې:
په اندېښنو کې د ژوند
لکه یتیم ماشوم مې سر په څنګل کېښودلو
وړې سلګۍ مې وکړې
شرم، حیا او پښتو
له ما خپه شول واړه
ځکه چې زه شومه کمزورې او ژړا مې وکړه
ژوندونه ستا له لاسه؟!!

***

یو شعر؟!!

چا ته جوړه کړم سندره؟!!
انځورونه سمبولونه
له کلونو جوړومه
خو په زړه کې یې ساتمه

که مې په غیږه کې لوی کړای نه وای

که مې سینې پورې جوخت کړې نه وای

که مې روزلې نه وای

که مې د زړه په وینو

که ما د تن په غوښو

که ما د خپل بدن په پاکه شیره

که مې په خپله غیږ کې

تا ته سبق د ژوند پیل کړی نه وای

که مې په ښو بدو پوه کړې نه وای

نو راته ووایه ته چیرې به وې؟!

زما نامتو زما اتله زویه

په هر څه پوه زما عاقله زویه

## (۲)

## ښځه

که زه حوا نه وومه

که زه ستا مینه نه وای

او که زه نه وای

که زه د مینې له هستۍ نه هسته شوې نه وای

د بابا آدم ژوندون نیمګړی به وای

که مې په سرو شونډو خندلي نه وای

که ما د سترګو غلچکو کتوکې

مینه در کړې نه وای

که ما د ژوند په اوږودو لارو ، کږ کیچنو لارو

ستا لاس نیولی نه وای

وایه چې څه به وې ته ؟؟!

او که زه نه وای که زه ښځه نه وای

وایه جانانه دا دنیا به څنګه

په دې ښکلا چې نن ده

دا جوړیده به څنګه ؟

داسې ښایسته جوړه شوه

مادر ته وژغورله ، له نړیدلو څخه

اوس ته آزاده او خپلواکه ګرځې

او زه د ښځې په نوم

ستا زولنې ښکلوم

او ستا پنجرې ساتمه.

پېښور ۹٦/۳/۵

# خندا

چې مې د سترګو شو ګیرو وخندل
میني آشنا ته په سلګو وخندل

چې مستقبل راته هک پک پاتې دی
ماته ماضي په سترګو سرو وخندل

بېځایه ونه سوم د ژوند بتۍ کې
لکه سپوږمۍ مې په تیارو وخندل

ستا انتظار مې په ګودر تیراوه
پرما کتار د منګو تېو وخندل

مبارکي راکړئ همزولو چې نن
پر ما د چم غټتو وږوو وخندل

هله شوم پوه د انتظار په اوږدو
چې مې ګلونو د کمڅو وخندل

د ننګ پلو مې راته ژاړي اشنا
لکه چې چا مې په پښتو وخندل

ما د دنیا پر خود غرضو خلکو
تا مې پرسویو اسویلو وخندل

۱۲/ ۱۰/ ۱۳۶۶ کابل خیر خانه

# چې زه نه یم

چې زه نه یم
ګلونه مړاوي به شي
سپرلي ژړانده به وي
زه به خاموشه یمه
بیا به غزل نه لیکم
بیا به د خپلو خوبو
تعبیر داونه کړم چې ته یې ګڼې مینه زما

بیا به د میني د ټال خوبونه نه وینمه

بیا به د اوښکو او غم

بیا به دویر او ماتم کیسې ونه وایمه

غزل به نه لیکمه

زما مرۍ کې به سندره ومري

زما د زړه په هدیره کې به کیسې ښخې شي

بیا به د میني پیغام زما په شعر کې نه وي

بیا به د کرکې او غم سندرې نه وایمه

کیسې به نه لیکمه

بیا به جانانه تا ته سترګو کې ونه خاندمه

هر څه به هیر کړمه او هیر به مې شي

د ژوند خواږه د ژوند ترخه او نازولې شیبې

خپل تصور کې دا تصویر جوړم

***

زما په وښکو

د ژو ند د پای ورېږ سلګۍ خوريدې

يوازې سوې ساندې د خپلې مور اورمه

زما د مور له لوڅو پوڅو او ستاينو سره

زمور د کلي لوی واړه ټول په زار زار وژاړي

بيا جنازې ته مې راغلې کسان

مورته مې داسې ډاډ ګيرنه کړي چې:

رب دې پر زړه د صبر کانړی کيږده

دا په اخلاقو پر ښته وه او د خدای تحفه وه

الله دې وبخښي جنت دې ورکړي

د جنازې کټ مې چې پورته شولو

بس په يوه لمحه کې

زما د ژوند سندره پای ومومی

بيا مې خبرې شي کيسې خلکو ته

چيرې کلونو کې يا دير مه زه ؟!!

# د غم لمبې

پر ما د غم لمبې خورې کړه چې غزل ولیکم
یو ځل مې بیا خاورې ایرې کړه چې غزل ولیکم
د رقیبانو په لمسون له ما جدا یې ولې؟
بلې په دې پیغور لمبې کړه چې غزل ولیکم
لتا نه لرې راته ګوره چې او تره ګرځم
د هجر د اشپې مې رڼې کړه چې غزل ولیکم
مینه رسوا کړه چې تورونه شي رښتیا د رقیب
لرې پوره مې دا اسرې کړه چې غزل ولیکم
پرون دې وویلې اشنا سبا به وشي دیدن
دغه وعدې لرې نرډې کړه چې غزل ولیکم
چې په هر کور هره ماله هره کوڅه کې کیدې
بیا هماغه کیسې تودې کړه چې غزل ولیکم

۱۳۶۸/٤/۷ ناصر باغ کمپ

دا زما د تره د زوی حبیب الله «درویش» صدیقی د واده سوغات دی.

## سوغات

ستا د واده سندره

زما په زړه کې نیمه خواپاتې شوه

د خنداګانو اداګانو او خوښیو ډالۍ

زما له سترګو نه د اوښکو په نوم وڅڅیدې

ځکه چې ما به شمیرل ستا د ښادۍ کلونه

د خوشحالۍ کلونه

خو چې راورسیدم، زه دارمان د خوشحالۍ کوڅې ته

کوڅه خالي وه زه یوازې ومه

ستا د واده سندره؟!!

هر مازیګر د سمندر په غاړه

په لوړ اواز وایمه

چې نا ببره راښکاره شي زانې
او ډلې ډلې هیلۍ
په نڅا پیل وکړي
بیا راته وو ایي په ډیره مینه:
مه ژاړه ژاړه مه د ژوند سندره پای نه لري
زه تکنۍ غوندې شم
دې حقیقت ته د ژوند غاړه کیږدم
خوږه موسکامې شي خوره پر شونډو
او زړه مې وتخنیږي و هڅیږي
تر شونډو لاندې پیل کړم
ستا د واده سندره
زانې چغار جوړ کړي
داسې چې ما سره سندره پیل کړي
ستا خو شحالي ونمانځي
ځکه نو اوس:
ستا د وصلت له پاره

چاته يې نشمه ښوولای
زه شعرونه جوړومه
تصويرونه جوړومه
سپينې پاڼې ډکومه
چاته يې نشمه لوستلای
چاته يې نشم اورولای
ځکه شعر د زما شعره؟!
ته او از د پښتنې يې
دا ستاستر زما ستر سزا واره د پردې يې
ستا صورت بې سيرت مشه
که زه تور ستا د ټېکي شوم
او پيغور د لوپټې شم
راته وايه راته وايه
د تورونو دې جهان کې
څنګه وليکم غزله؟!!

***

د دې نور آزاد نظمونه هم اکثر د غه شان د ژوند د ټپو اوښکاره واقعيتونو تصويرونه دي چې هر يو يې ښه شعر دی خو په خاص طور زما چې ډيرخوښ شول له پورتنيو شعرونه پرته دا شعرونه وو:

١ - نالوستی کتاب
٢ - نيمګړی خوب
٣ - سوغات

ستا د ژوندون په بڼ کې

دیوې نوې غوټۍ، نوې خندا

د ارمانونو اداګانو بهیر

له لرې لارې زه د تورو په ښایست کې نغښتې

او د څو کرښو په لیکلو سره

ستا د واده مبارکۍ کې دا سوغات درلیږم

وېې منه! دا مخ رونې دی زما

۱۹۹٦/٦/۱۱ ډنمارک

# د وطن مور

دا چې څه کاني دې پر ما ونه کړې

خدایږو څه نخرې دې پر ما ونه کړې

زه تروټې تروټې دې په خپل لاس کړمه

څه نادودې شپې دې پر ما ونه کړې

خر څه دې جانانه په اغیارو کړم

څه مزې چړچې دې پر ما ونه کړې

اور ته دې لمن کړله، پوکی دی کړ

څه بلې لمبې دې پر ما ونه کړې

ټوله هدیره شومه، جنډې شومه

آه چې څه پېښې دې پر ما ونه کړې

تا په سوال کولو آموخته کړمه

دا څه ډمامې دې پر ما ونه کړې

# مینه څه ده ؟!

مینه شور دی
مینه اور نه بلکې نور دي
د چا زړه کې چې پیدا شي
انتقام مینه کې نشته
مینه څه ده ؟!
د انسان د ژوند بقاده دا د رب لویه عطا ده
یو بخشش دی او ډالۍ بې انتها ده
مینه زړه کې را پاریږي
بلکې مینه زړه باله شي
مینه سترګو کې ښکاره شي
یوه ځلاشي یوه ښکلا شي
غوغانه، ټوله چوپتیا شي

سر تر پایه بیا حیا شي

د چا زړه کې چې پیدا شي

له ریا نه ماسوا شي

حقیقت شي او رښتیا شي .

لاهور اپریل ۱۹۹۵

## د جانان کلی

تا به د تلو ویل او ما به درد الې کړې او ښکې

خوږه لمحه وه ، خو افسوس چې باراني غوندې وه

په تلوسو مې د یدن د جانان کلی وموند

په یوه رپ چې تیریده زما ځواني غوندې وه

۲۰/٤/۱۹۹۳

# د آهو نو سمندر

پرون چې مې په سترګو کې هم تا ته کړه موسکا
نن جوړه سپيرو شونډو مې دنيا ته کړه موسکا
شعرونو مې جانانه شاه جهان درځني جوړ کړ
خوپوه نه شوم په دې چې زړه مې چا ته کړه موسکا
زما بې وزلې ژوند شولو د اوښکو روڼ تصوير
دې سوي و اسويلو چې مې اشنا ته کړه موسکا
بېګامې د آهونو سمندر کې دوه بېدلې
ما راز د ژوند ليکلو، تا مېنا ته کړه موسکا

# بړبوکۍ

د مازيګر له بړبوکيو څخه
زه د ماښام له تيارو
بې حده ويره لرم
د نيمو شپو له تروږميو نه هم
ترهه راځي
ځکه چې ما ته د ماښام څيره کې
د وحشتونو کرغېړن لاسونه
په وينو سرې شوندې اوسرې منګولې

نه چې سپيرې او جل وهلې شونډې

تيرې تيرې داړې يې

راته ګوانښيږي مدام

هم مې د ژوند ترخې ترخې خاطرې

دغه څيره کې ژاړي

او رانه غواړي د سباناوکی

اوس مې يوائې دا اميد پاتې دی

چې زه يم ناسته انتظار يې کوم

سترګې پر لاري يمه

ښکالويې اورم له ورا

د قدمو نو ښکالو

ستړيو ګامونو ښکالو

ويره مې هم کمه شي

بيا زړه کې ووايم چې:

راته به ژوند د روڼ سهار د سپيدو

په نيم کښو څيره کې وخاندي بيا

شفق به وخاندي په سرو شونډو کې

موږه به هم د زړه له کومي خاندو

دنیا به وخوري حسرتونه زموږ

زموږ د ژوند د مینه ناکو شیبو

د جنتونو درنګ

د خوشحالو دورځو

د سوکالو د شیبو

ډیوې به ولګوو

رڼا به راشي د تورتم پر کاله!!!

# ماشوم هوس

زما خـــوبونو ارمـــانونو ، ویښــوې مـــې څله
خـــزان وهلو بهـــارونو ، ځـــوروې مـــې څله
زه د هجـران د شپــو شوگـيـر کـې لاسـتـومـانه نه يم
په دغـــمـــو ډکـــو کلو نو ســـتنوې مـــې څله
دليـونيـانو په درشل کـې حـاد ثې شــمـيـرمـه
د زمـــانی تر خـــووخـــتـــونو ، خـــبـــروې مي څله
زه يې د کـلـي د جنون لارې تـر څــــــووڅـــارم
د ځـــوانې مـــينې ياد گـــارونو ، دردوې مـــې څله
د يار په چم کــې د ديدن ســتــړې ســتــومــانه دې ډير
په ســـتـــړو شـــويو ديدونو ، رنځـــوې مـــې څله
په يو نظر د چا د ســـتـــرگـــو غلچکو په کـــتـــو
زمـــا مـــاشـــومـــو هوســـونو ، تموې مـــې څله .

۱۹۹۳ پټهان کالونی

# ګيله من تصوير

يو مازيګر د ژمي

د زيړي لمر د ځنکندن سلګۍ وې

ستړی ستومان ښکاريده

او زيړ ځبيښلی ستومان

په کې تودوخه نه وه

په زړه ساړه مې راغله

زنه مې وګرزيده

د ژوند هنداري ته مې پام شو چې ټوټې ټوټې ده

په خړو خاورو سپيره

ماړه نا زړه ماتې هنداري ته نظر واچاوه

چې مې تصوير ټوټې ټوټې وپکې

زما د ژوند د ستومانۍ تصوير هم

ټوټې ټوټې هنداري وښود راته

اوس به راوګرزو د دې غزلو ته؛

د دې غزلې هم تر ډيره حده کاميابې غزلې دي، د دې په غزلو کې احساسات عواطف تخيل او واقعه ګويي او نورې معنوي خوبۍ په کافي اندازه له ورايه ځليږي خو دوه خصوصيتونه يې ډير د ستاينې وړ دي.

لومړی دا چې د دې شعرونه د لنډيو په شان په وازکومې نارې وهې چې دا شعرونه د يوې ځوانې پېغلې د رقيق زړه له تل څخه راوتلي دي او د ښځو د هيلو، اميدونو او د دوی د جذباتو ترجماني کوي.

ستا د ليونو سترګو سر په سر ستونو زه
څومره بې پرواکړمه ياره دا دې څه وکړه
يو ځل دې په خوږ نظر ماته راونه کتل
پرک دې د برښنا کړمه ياره دا دې څه وکړه

***

زه د مينې انځور ګره څه تصوير چې جوړم يې
دا چې ته يې ورانوې نو ځانته وژاړم که تا ته؟

***

هيلې مې د سترګو په ډوليو کې
ستا تر کلي راغلې جنازې شولې

***

تا ته د زلفو په تياره کوڅه کې
ډيوې د سترګو بلولی شمه
ستا په پټکي کې يمه خوښه غوټۍ
د ننګ شمله دې هسکولی شمه

***

يو گيله من تصوير و

زه تېکني شوم لړه

لکه له خوبه چې راوېښ شي بنده

ځان ته مې پام شو لوچې:

يم لکه لمر د ژمي

چاته تودو خه ورکولی نشم

سترګې بې نوره مې دي

زړه بې سروره مې دی

زما پر شونډو خندا

څه مړغيجن ژوند لري

سا مې اوږده واخيسته

سوړ اسويلی مې وکړ

او خپل احساس مې د زخمي زخمي هنداري زړه کې

پرېښود او خپله ترې روانه شومه

بيا مې د ژوند ديوال ته شا کړه او دمه شوم لږه

امیدمې وتخنیده

زه یې ډاډمنه کړم چې:

زه یمه ونه خو د صبرونه

د پسرلي او تاندو څانګو انتظار کومه

زه د غوټیو او تنکو ښاخونو

او د ګلبوټو ارمان

په خپل کوګل کې له کلو ګرځوم

زما د غیږې زانګو

زما څنګل زما د لیځو بالښت

د ستومانۍ احساس لانه دی کړی

زما پر شونډو اللو سندره

شوګیر وهلې ده خو نه ده ویده

او ته دا څنګه منې

چې انتظار دې نه کړم!؟

۲۷/۱/۹۶ پتیهان کالوني

# د اوښکو افلاتون

راشــه په لیــمــو کــې مــې تړون د اوښکو وګــوره
یو تربل جــاروځي پیــوســتــون د اوښکو وګــوره
تا چې یادومــه په شــیــبــو شــیــبــوشــیــبــوا وري
تم شــه مــه ځــه مــه ځــه دا جنون د اوښکو وګــوره
خــــدایږوتـه دا نــه مـنې چې اوښـکې بـه رودو نـه شـي
راشــه په ګــریوان زمــا جــیــحـون د اوښکو وګــوره
زه کــه بیــوطنه، مــســافــره، مــهــاجــره، یم
تـه هم انـقــلاب او اوښــتــون د اوښکو وګــوره

ډېرې اوښکې توی شوې او پیغور د ګریوا نونو شوې
نن د اوښکو حال او هم پرون د اوښکو ګوره

اوس په تورو شپو د تورو زلفو په کوڅو نه ځي
څه سیده ساده دی، دابدلون د اوښکوو ګوره

راز دې په کې نغښتی د ژوندون د بدلیدلو راز
ټوله فلسفه، د افلاتون د اوښکو ګوره

ما بدلول غواړي زما خیال بدلول غواړي
زه نرینه لوګی شمه دا یون د اوښکو ګوره

۱۹۹۶/٤/۱٤ پیښبور پښتهان کالوني

ډالۍ زما مشر وراره جمال جان ته:

# زما جمال ته

یه سپوږمۍ زما د خیالونو

ترووږمۍ کې راځلیږه

هر سهار چې لنبوم دې

هماغه روښانه لمر شه

خوب او خیال مې تا سره دی

ته مې ټوله مینه مینه

ته مې کسي ته لپمه یې

ته مې هیله د وختو وې

***

په زړګيه ګلاليه!!!

ته ښايست زما د ځان شه

ته زما عزت شه شان شه

په زما د ژوند جماله؟!!

زما شعره زما خياله

زما ستړی شان ژوندون ته

هم يو ښکلی شان جهان شه

يو نا متواتل انسان شه

درته نه وايم خوشحال او يا صوفي عبدالرحمان شه

زما ګله قهرمان شه

د هغو په لار روان شه!!!

پيښور ۱۳۶۸/۶/۱

## د مینې غوټۍ

مینې بیا غوټۍ شه چې یادېږې مې
وسپړه تنکۍ شه چې یادېږې مې
وڅیره ګریوان او تار په تار یې کړه
تږوله غرڅنۍ شه چې یادېږې مې
ومې سیزه تږوله او لمبه مې کړه
وخانده موسکۍ شه چې یادېږې مې
ماته دې ګرمي د نظرو ښیه
هغه شان سپرغۍ شه چې یادېږې مې
وخت د ځنکدن دی که راځې ګوره
ته وروستۍ سلګۍ شه چې یادېږې مې
ښاد د صفیې خاطر ناښاده کړه
بیا مینه ړومبۍ شه چې یادېږې مې

۱۹۹۱/۵/۱ پیښور

# مخه ښه

بیا رایاده هغه ورځ شوه
چې له ډیرې لرې راغلم
موږه ټول له لرې راغلو
هاغه ورځ چې یو له بله ټول پردي وو
ټول ملګري نا اشنا وو
ښه مې یاد شي چې څو ځلې ما دا ټول نا اشنا
له نظره یو یو تیر کړل
ما ویل آه خدایه درې میاشتې ؟!
دا اوږده موده به څنګه
په دې کلي نا اشنا کې زه یوازې تیرومه
څنګه هیر به مې خپل کور شي ؟؟؟

بلدتیا له نا بلدو سره څنګه ؟!

دې پوښتنو څو څوځلي ځورولم

***

خو نن بیا مې نظر پریوځي

په دې تورو ، سرو او سپینو په خوږو خوږو

ملګرو

نظر واچوم خو داځل:

ډېر په مینه ورته ګورم

په خوږو خوږو کتوکې دا ځل سوړ اسویلی وکړم

او بیا ووایم آه خدایه ؟!

دا اوږده موده شوه تیره

له دې ټولو نا اشنا سره اشنا شوم

دا درې میاشتې شولې تیرې ؟

***

څنګه دوی‌ ته ووایم ؟

مګر څنګه څه ووایم ؟

دا ویل راته ډېر ګران دي

چې دا څه ترخه شيبه ده؟

څه غمگينه شان لمحه ده

ذا بيا کوم يو امتحان دی؟

چې زه بيا د شعر په ژبه

نذرانه د خپلو اوښکو

د ترخې مومسکا په څنگ کې

له ناچار تولو ته وايم:

خدای په امان زما ملگرو

خدای په امان زما ملگرو!!!

۱۹۹٤/٤/٦ دنمارک

او د غه شان نور بیتونه هم لري د محترمې صفیي د غزلو بل خصوصیت دا دی چې اوږده او خوندور ردیفونه یې ورته خوښ کړي دي، اوږده ردیفونه د نن سبا شاعران اکثر خوښوي خو له بده مرغه چې گور ورد یف ډیر ځایه د بیتونو له مضمون سره سرنه خوري او د شپږ مې گوتې حیثیت لری نو د دې په ځای چې د غزل خوند ورباندی زیات شي د غزل مری تربته کړي. خو د صفیې کمال دا دی چې ردیفونه یې د ټولو بیتونو له مضامینو سره جوړښت لري او داسې نه ښکاریږي چې هسې ورپورې تپل شوي دي. څرنگه چې په دې مجموعه کې د اکثر وغزلو ردیفونه دا خصوصیت لري د پوره مثالونو راوړل به یې د غزلونو د تکرار چاپولو حکم ولري. صرف د یو څو بیتونو په راوړلو به اکتفا وکړم.

چې اشنا ښکاري بدل څه به تصویر کړم؟
په زړه پاته شو اور، بل څه به تصویر کړم؟

***

دا چې غم راته کړی نو ځان ته وژاړم، که تاته؟
د زړه زغم چې ماتوې، نو ځان ته وژاړم که تاته

***

راشه په لبمو کې مې ترون دا وښکو وگوره
یو تر بل جار وځي پیوستون د اوښکو وگوره

***

باغچه راته د گلو دستم کوڅه کوڅه شوه
د زلفو سلسله مې ستا د غم کوڅه کوڅه شوه
پټی کړه ورته جوړه د دیدن چې د زړه ټپ مې
په نمه د دارو او د ملهم کوڅه کوڅه شوه

***

# هیواده!

۱

سترګې مې پرانستې، د ژوند له خوبه
د ماشومتوب له خوبه
د پیغلتوب له خوبه
د شنه آسمان پراخې غېږې ته مې ودانګلې
هله مې ولیدل چې
د ستړې ځمکې ناستومانه بچې
لکه بچو د لړم
په خپلو غاښو یې مورو چیچله ټکوهله
بس په ګډا ګډا یې سپیره مور وځټله

ښنګر يې وځنېل او بر يت يې تاو کړه
اوما په زړه کې وويل:
څه به ترې پاتې وي چې
له خپلې موره راچار پيرد ي او ګوانيري ورته؟!
وروسته تر لږې مودې
دغه ناځوانه بچي
د سودا ګرو واټ ته ورسيدل
څوکه زموږ د دې خاورينې نړۍ
کومه لويشت پاتې وي چې ويې پلوري
***
دغه د زور خاوندان
دغه د زر څښتنان
دا سره او سپين ځناور
سري خوارد انسانان
په بربادۍ مينان
چې هرد سيمه هروطن داور لمبو کې سوځي
د وی وي خوشحاله ورته
ناست دي له لرې تماشې يې کوي

***

آه! چې لا ژاړم به نه؟؟!

وطن مې تول جنډې جنډې او هديرې جوړې شوې

دا څه فتنې جوړې شوې

زما په ښکلي ګلالي وطن کې

دا څه فرقې جوړې شوې

چا پښتانه وداړل

چا هزاره وشړل

چاوې ازبک له دې وطنه نه دی

او چالا تاجک پکې پر دی وګانه

جنت نښانه زما

افغانستانه زما

ځنګه ټوټې ټوټې شوې

لوګی دې چاونه کوت

ګله لمبې لمبې شوې

زړه ته مې داسې راځي

بيا به دې ونه وينم

په پسرلو کې به دې

لکه خپلواکه مرغۍ

ځالې بیا جوړې نه کړم

په تاندو څانګو به بیا

لکه بلبله غوندې

سندرې ونه وایم

سپرلی به ونه ستایم

# شهيدې ارزوګانې

بنګړي مې په ژړادي مړ وندونه خپه ښکاري
په غاړه مې د ګلو امېلونه خپه ښکاري

خوږين شوی زړه ګوګل کې خړه ښېږۍ له سترګو
په تاندو باغيچو مې اميدونه خپه ښکاري

ځواني مې د ارمان په تناره کې ساوباسي
وربل د پاسه نن چې سره ګلونه خپه ښکاري

ډېوی مې د ژوندون په مړه کېدو نه دي نو څه دي؟
محفل کې د ښادۍ چې مشالونه خپه ښکاري

د زلفو په هر ول کې مې غمونه سره نغښتي
په زړه د حادثو راته دامونه خپه ښکاري

شهيدې ارزوګانې مې په خاورو کې ښخېږي
سپوږمۍ تندر نيولي اسمانونه خپه ښکاري

د حسن له باغچونه دي چې تشه لمن ورمه
سپېره تندي زمانه بهارونه خپه ښکاري

۱۳۶۶/۳/۱ کابل

# زما شعره !

یوازې ته یې ته یې
چې مې د ژوند پر شاړ د شوې اوسپیرې کروندې
د ژوند تخمونه کرې
بس نو دا شاړه ځمکه وترد به وي
ها کرل شوی تخم ، به پکې وتوکیږي ؟
زما مغروره او سرکښه شعره ! ؟
زما ساده زما پښتو نه شعره ؟!

# نه دي بخښنم

هومره چې وژړیدم

هومره چې وځوریدم

هومره چې ودردیدم

د زړه له تله وایم

الله دې وژړوه

الله دې وځوروه

په زړه دې ودردوه

زما د ژوند خوږې لمحې

زما ځواني، خواږه خواږه مې د ځوانۍ خوبونه
هیڅا تعبیر نه کړه خو
د جنګ په سوځنده لمبو کې وسول
زما ویده خیالونه
بس راونه تخنیده
بې روحه پاتې شول
ویده پاتې شول
هستي مې لوټ شوه ټوله
وطن مې لوټې لوټې
چې مې دا هر څه یاد شي
ګوره هیڅکله به دې نه بخښم
مور به دې ونه بخښو
په خوله دعا نه راځي
ځکه ښیرې کړم درته!!!

# ناسور پرهر

گل ته غاړې وتې له ورمو سره ضدمه کوه
پیغلو اوسیلو د پسرلو سره ضدمه کوه
توري ګردلې شوې، برېوکۍ شوې امید ونه مې
بخته اوس له دې شاړو کو څو سره ضدمه کوه
لښته ومه، څانګه ومه، ستا د کلي میره وم
بس دی اوس د هجر ما ښامو سره ضدمه کوه
وګوره چې ماتې مې د هیلو تاندې څانګې شوې
اوس مې له نیمګړو ارمانو سره ضدمه کوه

نه دی کـړه پوښـــتنه چې اشنا د تیپي شــوي زړه
اوس له نـاسـور شـويـو پرهرو سـره ضـدمـه کـوه
مـات شو منگوټی په گـودر خواد چا سړه شـوله
یاره بس د کــونډو ارمـانو سـره ضـدمـه کـوه
تا و به شي راتاوبه شي او پښو ته به دې لومه شي
پام له خوروزلفـو زنځـیرو سره ضـد مـه کـوه
ستــا یادونه وریځـې عــادتونه دي باران باران
اوښکې لیـونی دي لیـونو سره ضـد مـه کـوه.

۱۹۹۶/۲/۲۱ پیښور

له دغو دوو خصوصیتونو علاوه هم د صفیې جانې په شعرونو کې ډیر لطف او نزاکت لیدل کیږي چې د مثال په توگه به څو بیتونه را واخلم:

تابه د تلو ویل او مـا به در ډالۍ کـړې اوښکې
خوږه لمحه وه خو افسوس چې بارانې غونډې وه

***

نه مې شـوای ویلای لـه سلگو ســره
پا ته نیـمـه خـوا چې مې اسـرې شـولې

***

مات شول منگوټي په گودر، خوا د چا سره شوله
باره، بس له کونډو ارمانو سره ضد مه کوه

***

ســتـا لـه مـالتـه د زگـروو آواز دی
کــوم تـر هیــدلې ارمــانونه ژاړي

***

څپې څپـې څپـې شه اباسینه کـه مې وړې
زمـا د ژوند لمحې شه اباسینه کـه مې وړې

***

هـلـه شــــوم پوه د انـتـظـار پـه اوږدو
چې مــې گلونـو د کـمـخـو وخندل

په پای کې ورته اوږد، خوږ او پر ثمره عمر غواړم.

محمد صدیق پسرلی
اسد ۱۳۷۵ پیښور

| مخ | سرليک | ګڼه |
|---|---|---|
| ٤٨ | هيله | ١٥ |
| ٥٠ | زما ځواني | ١٦ |
| ٥٢ | شډل وختونه | ١٧ |
| ٥٤ | نيمګړی خوب | ١٨ |
| ٥٦ | ترهيدلی ارمان | ١٩ |
| ٥٨ | آباسين ته | ٢٠ |
| ٥٩ | دوه غمرازي (١) مور | ٢١ |
| ٦١ | (٢) ښځه | ٢٢ |
| ٦٣ | خندا | ٢٣ |
| ٦٦ | چې زه نه يم | ٢٤ |
| ٦٧ | د غم لمبې | ٢٥ |
| ٦٨ | سوغات | ٢٦ |
| ٧١ | وطن مور | ٢٧ |
| ٧٢ | مينه څه ده؟ | ٢٨ |
| ٧٤ | د آهونو سمندر | ٢٩ |
| ٧٥ | بربوکی | ٣٠ |
| ٧٨ | ماشوم هوس... | ٣١ |
| ٧٩ | ګيله من تصوير | ٣٢ |
| ٨٢ | د اوښکو افلاتون | ٣٣ |
| ٨٤ | زما جماله ته | ٣٤ |

| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ٣٥ | د مینې غوټۍ | ٨٦ |
| ٣٦ | مخه ښه | ٨٧ |
| ٣٧ | هیواده | ٩٠ |
| ٣٨ | ارزوګانې | ٩٤ |
| ٣٩ | زما شعره! | ٩٥ |
| ٤٠ | نه دې بخښنم | ٩٦ |
| ٤١ | نا سور پرهر | ٩٨ |
| ٤٢ | ژوند ته | ١٠٠ |
| ٤٣ | د حرم کوڅه | ١٠٢ |
| ٤٤ | زما اولسه | ١٠٣ |
| ٤٥ | ګیله | ١٠٧ |
| ٤٦ | وځلېږئ لمرونو | ١٠٩ |
| ٤٧ | شکمن ارمان | ١١١ |
| ٤٨ | اندېښنه | ١١٣ |
| ٤٩ | دوه بې خوبه ټکي | ١١٤ |
| ٥٠ | مخ زونی | ١١٦ |
| ٥١ | ننواتې | ١١٧ |
| ٥٢ | خپه موسکا | ١١٩ |
| ٥٣ | د شعر اسمان | ١٢٠ |
| ٥٤ | د حقیقت ډولۍ | ١٢٢ |
| ٥٥ | د غزل ګل | ١٢٤ |

| گڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ٥٦ | زیری | ۱۲٥ |
| ٥٧ | د وختونو خندا | ۱۲۷ |
| ٥٨ | انتظار | ۱۲۸ |
| ٥٩ | بری | ۱۲۹ |
| ٦٠ | نیزه وړي | ۱۳۱ |
| ٦١ | د محبت ځلی | ۱۳۲ |
| ٦٢ | دوربل گلونه | ۱۳۳ |
| ٦٣ | غونچې ته | ۱۳٥ |
| ٦٤ | تعبیر | ۱۳٦ |
| ٦٥ | د سباون وږمه | ۱۳۷ |
| ٦٦ | نیمخواهیلې | ۱۳۹ |
| ٦٧ | اوږدې وعدې | ۱٤۱ |
| ٦٨ | سوداگر | ۱٤۲ |
| ٦٩ | تیر پسرلی | ۱٤٤ |
| ٧٠ | پښتنه مینه | ۱٤٥ |
| ٧١ | پاینبت | ۱٤٦ |
| ٧٢ | گامونه | ۱٤۷ |
| ٧٣ | ناسپړودی لیک | ۱٤۸ |
| ٧٤ | د مینې غچ | ۱٥۳ |
| ٧٥ | افغانستانه | ۱٥٥ |

| گڼه | سرليک | مخ |
|---|---|---|
| ٧٦ | غوبنتنه | ١٥٦ |
| ٧٧ | يو شعر | ١٥٩ |
| ٧٨ | پسرليه | ١٦٤ |

نالوستی کتاب
صفیه صدیقي
د شعرونو دریمه مجموعه

## زه!!

ځکه چې زه؟!
زه دا کتاب او څو کرې کرښې یم
زه یو کتاب یم، یو خاموشه او نالوستی کتاب
یوه کیسه یمه یو شعریم د ژوند
زه افسانه یم د جنګ
په ما کې مینه ده، میړانه ده ننګ
هغه کتاب یمه چې
څوک مې لوستلی نشي

## زما؟!...

زما ځواني، خواږه خواږه مې د ځوانی خوبونه
هیچا تعبیر نه کړه خو
د جنګ په سوځنده لمبو کې وسول
زما ویده خیالونه
بس راونه تخنیده
بې روحه پاتې شول
ویده پاتې شول

# نا لوستی کتاب

د صفيي صديقي

د

شعرونو دويمه مجموعه

۱۳۷۵ لمريز کال

**کتاب پېژندنه:**

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | : نالوستی کتاب |
| شاعره | : صفیه صدیقي |
| د پښتی طرحه او دیزاین | : نجیب الله ځندران ببرکزی |
| رسامی | : رجب علی هنرخواه |
| د کمپیوتر سمبالونکی | : اجمل سنګریار |
| خپرندوی | : خوشال فرهنګي ټولنه |
| شمېر | : یو زر ټوکه |
| د خپریدو نېټه | : ۱۳۷۵ لمریز، ۱۹۹۷ میلادي |
| بیه | : څلویښت روپۍ |

بسم الله الرحمن الرحیم

# ترون

د خپلې خوږې مور په نوم چې ماته يې
په خپله غیره کې د پښتونولۍ
پښتو پالنې او انسانیت
سبق راکړی دی.

# فهرست


| گڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | یو ځو خبرې | ۱ |
| ۲ | بي بي صفیه | ۱۰ |
| ۳ | یوه پښتنه او ... | ۱۷ |
| ٤ | نیمګښو | ۲۳ |
| ٥ | د زمرۍ په ګوګل کې ... | ۲٥ |
| ٦ | د پښتو ادب مالیارې ته! | ۲۹ |
| ۷ | مناجات (ژغایه) | ۳۰ |
| ۸ | نالوستی کتاب | ۳۱ |
| ۹ | پوښتنه | ۳٤ |
| ۱۰ | تلپاتې غمیزه | ۳٥ |
| ۱۱ | ارمان | ۳۷ |
| ۱۲ | معذوره غزل | ٤۰ |
| ۱۳ | د ژوند جوهر | ٤۲ |
| ۱٤ | د ژوند پړاو ک | ٤٤ |